حقوقُ النِّساء

یعنی

دماندینی حقوق

شیخ العرب والعجم عارف باللہ حضرت اقدس

مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتہم

خانقاہِ امدادیہ اشرفیہ: گلشنِ اقبال، کراچی پاکستان

www.khanqah.org

حقوقُ النِّساء

یعنی

دماندینی حقوق

شیخ العرب والعجم عارف باللہ

حضرت اقدس مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتہم

خانقاہِ اِمدادیہ اشرفیہ

گلشنِ اقبال بلاک ۲ کراچی

www.khanqah.org

مقدمه

دجنوبی افریقې دبعضی خصوصی مُریدانو پر دعوت باندی دغه کال د۱۹۹۰ عیسوی دجنوری په میاشت کی د**شیخُ العرب والعجم مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب مدظله** دجنوبی افریقې سفر وسو. دسفر په ابتدا کی یې عمره ادا کړه او په سعودی کی یې پنځلس شپې قیام وکی، هلته سعودی ته دجنوبی افریقې دسفر دعوت ورکونکی مولانا حسین بهیات صاحب دافریقې څخه دسفر دملګری دپاره راغلی. دجنوری پر۲۷تاریخ دشنبې په ورځ حضرت صاحب، دحضرت صاحب دغه خادم او مولانا حسین بهیات صاحب وجنوبی افریقې ته ورسیدل.

په داغه شپه دماخوستن دلمانځه وروسته دمولانا حسین بهیات صاحب پر کور باندی چی (دجنوبی افریقې په ښار) لنیشیا کی دی ډیر عُلماء حضرات دحضرت صاحب دمُلاقات دپاره راټول سول او حضرت صاحب پر خپل مبارك عادت باندی هغوته نصیحتونه شروع کړل، په نصیحتو کی یې تقریباً یو ساعت دماندینې حقوق بیان کړل. وروسته بیان اوریدونکو وه حضرت صاحب ته وویل چی موږ ته ډیره ګټه راورسیدل، یو عالم ورته وویل چی حضرت صاحب تا ددې ځای دخلګو یو خطرناکه مرض بیان کړی، ډیر خلګ په دې مرض اخته دی او دښځی په حق کی ډیر غفلت کوی او ده دغه خواهش ښکاره کی چی دغه بیان باید بیا په یو لوی مجلس کی وسی چی ګټه یې عامه سی او دغه خبری دټولو تر غوږو پوری ورسیږی، انشاء اللّٰه تعالٰی دډیری ګټې امید سته.

په دا بله ورځ هم ډیرو خلګو دغه فرمائش وکی چی دغه بیان باید په مسجد کی دډیرو خلګو ومخته وسی، او ډیرو عُلماوو چی دشپې په مجلس کی حاضر وه وې

ویل چی دشپې په بیان سره زمونږ سترګی خلاصی سوې او مونږ دخپلو سټګو څخه معافی وغوښتل او دهغو سره مو ښه ژوند شروع کړی.

نو د اعلان په مطابق دجنوری پر۳۰ تاریخ دسې شنبې په ورځ دماخوستن دلمانځه وروسته دآزادوِل دمدرسې په مسجد کی بیان وټاکل سو. حضرت صاحب تقریباً یو نیم ساعت دخدای پر مخلوق باندی درحم کولو او دتکلیف نه ورکولو او دښځی سره دښه اخلاقو په باره کی بیان وکړی کوم چی د **اِنَّ مِنَ الْبَیَانِ لَسِحْرًا** مصداق وو او داسی ددرده ډك او تاثیرناکه بیان وو چی خاص او عام ټولو ژړل، عجبه منظر وو چی دحضرت صاحب دعشق ژبه، په دردکی ډوبی خبری او دأوښکو ډکی سترګی دخلګو زړونه ورکبابول او داسی معلومیدل لکه دزړو مځکی چی په سخته تنده کی دهدایت اُوبه جذبه وی.

اُف کلیجے منہ کو آتے ہیں تری آواز سے
کس قیامت کی تڑپ اُف تیرے افسانے میں ہے

ترجمہ: اُف زړونه خولې ته رائځی ستا په ږغ سره، دا څنګه غضبناکه ناقراری ده ستا په خبرو کی.

قال تو پیدا شود از حال تو
حال تو شاهد بود بر قال تو

ترجمہ: ستا دحاله څخه ستاخبری پیداکیږی، ستاحال خپله شاهد دی ستا پر خبرو باندی.

او داسی معلومیدل لکه دغیبو څخه چی پر زړه باندی دمضمونو جامونه را روان دی.

جنت کی مے پیئے ہوئے ساقی تھامستِ جام
ساغر تھا، دورِ مے تھا، مقابل میں ہم بھی تھے

ترجمہ: دجنت شراب یې چیښلی په جام مست وو ساقی، ساغر وو، دشرابو دور وو په مقابل کی یې زه هم وم.

او ماته دحضرت صاحب هغه شعرونه راپه یاد سول چی حضرت صاحب دخدای ددوستانو او دخدای دعاشقانو دپاره ویلی وه.

درِ راز شریعت کھولتی ہے

ترجمہ: دشریعت درازو دروازه خلاصوی

زبانِ عشق جب کچھ بولتی ہے

ترجمہ: کله چی دعشق ژبه خبری کوی

خرد ہے محوِ حیرت اُس زباں سے

ترجمہ:عقل وداسی ژبی ته حیرانی کوی

بیاں کرتی ہے جو آہ وفغاں سے

ترجمہ: کوم چی په اُوښکو او ژړا سره بیانونه کوی

جو لفظوں سے ہوئے ظاہر معانی

ترجمہ: دلفظو څخه چی کومی معنٰی وی سوې ښکاره

وہ پا سکتے نہیں درِ دِنہانی

ترجمہ: هغه دزړه وپټ درد ته نسی رسیدلای

لغت تعبیر کرتی ہے معانی

ترجمہ: لغت معنیٰ ښکاره کوی

محبت دل کی کہتی ہے کہانی

ترجمہ: محبت دزړه قصه بیانوی

کہاں پاؤ گے صدرا بازغہ میں

ترجمہ: چیری به یې حاصل کړې دصدرا او بازغه(منطق او فلسفې) په کتابو کی

نہاں جو غم ہے دل کے حاشیہ میں

ترجمہ: کوم غم چی پټ دی دزړه په حاشیه کی

مگر دولت یہ ملتی ہے کہاں سے

ترجمہ: مګر دغه دولت چیری لاس ته کیږی

بتاؤں میں ملے گی یہ جہاں سے

ترجمہ: دروې ښوومہ چی دا چیری حاصلیږی

یہ ملتی ہے خدا کے عاشقوں سے

ترجمہ: دا حاصلیږی دخدای دعاشقانو څخه

دُعاؤں سے اوران کی صحبتوں سے

ترجمہ: دهغو ددعاوو څخه او دهغو دصحبتو څخه

په دا بله ورځ ډیرو خلګو دغه وویل چی حضرت صاحب دبیان څخه پر موږ باندی ښکاره سول چی دماندینې په باره کی موږ ظالمان وو، نو موږ دبیان وروسته دخپلو ښځو څخه بخښنه وغوښتل او دا اراده مو وکړل چی بیابه هیڅکله ددوی سره بد وضعیت ونه کړو. دیو مدرسې مُهتمم په تلیفون کی حضرت صاحب ته وویل چی دبیان وروسته چی زه کور ته ولاړم نو ما وخپلی ښځی ته وویل چی تر ننه پوری ستا په حق کی چی زما څخه څونه غلطی سوی دی هغه دخدای دپاره را وبخښه او په جیب کی چی څونه پیسې راڅخه وې هغې ته می ورکړې او ورته ومی ویل چی بیابه هره میاشت یو څه پیسې دجیب دخرڅ دپاره درکوم او حساب یې هم نه درڅخه اخلم، داغه مُهتمم صاحب وه حضرت صاحب ته وویل چی دښځی دغه حق کوم چی حضرت تهانوی رحمة اللّٰه علیه بیان کړی دی چی ماندینې ته هره میاشت یو څه پیسې دجیب خرڅ دپاره ورکوه او حساب هم مه ځنی اخله (چی چیری دی مصرف کړې) خدایﷻ دی حضرت صاحب تاته خیر درکړی چی دډیر ضروری شی وخواته دی متوجې کړو، دښځی دحقوق په باره کی موږ ته ډیره لو پاملرنه وسوه، اللّٰهﷻ دی استقامت پر راکړی.

همدغه رنګه نورو عُلماوو هم دداسی فائدې اظهار وکړی. څو ورځی وروسته په دې باره کی مو عجبه قصه واوریدل، یو سړی کوم چی خپله ښځه ډیره ازارول، دغه واری چی په دینی سفر تلی نو وخپلی ښځی ته یې وویل چی تر ننه پوری ما

پر تا څونه ظلمونه کړی دی دهغو بخښنه درڅخه غواړم، زما غلطی راوبخښنه نو ښځه بیچاره یې وارخطا سول او دآزادوِل دمدرسې مُهتمم مولانا عبدُالحمید صاحب وه ښځی ته یې ټیلفون وروکی چی نن معلومه نه ده څه پیښه ده زما میړه زما څخه بخښنه وغوښتل او ولاړی حالانکه تردې دمخه داسی نه ده پیښه سوې، زه بیریږم چی شاید پرده باندی کشف سوی دی چی دده دمرګ وخت نژدې دی او بیا دسفر څخه هیڅکله نه راځی په دې خاطر یې بخښنه راڅخه وغوښتل، نو دمولانا عبدُالحمید صاحب ښځی دغه اطمنان ورکړی چی داسی خبره نه ده، زمونږ ملك(جنوبی افریقې) ته نن سبا یو حضرت صاحب راغلی دی کوم چی دماندینې حقوق بیانوی، ستا میړه به هم دهغه بیان اوریدلی یی، دا دهغه بیان تاثیر دی. څو میاشتی وروسته مولانا حنیف صاحب او مولانا هارون صاحب دجنوبی افریقې څخه وکراچی خانقاه ته (داصلاح په نیت) دقیام دپاره راغله او دغه عُلماوو وه حضرت صاحب ته وویل چی حضرت صاحب ستا دبیان څخه دجنوبی افریقې ډیرو خلګو دخپلو ښځو په حق کی ډیره نرمی او دمحبت معامله شروع کړل. فالحمد للّٰه علی ذالك

ددې بیان دګټې په خاطر دغه بیان دپیټې څخه وکتاب ته نقل سو او ستاسی په خدمت کی وړاندی کیږی او دغه کتاب داول څخه تر آخره پوری خپله حضرت صاحب مدظله هم مطالعه کړی او ددې کتاب نوم "حقوقُ النِّساء" وټاکل سو. حق تعالٰی دی دقبولیت شرف ورته عطا کړی او دامّتِ مُسلمه دپاره دې نافع وګرځوی او دحضرت صاحب او دمُرتب کونکی او دجمله معاونینو دپاره دې صدقهٔ جاریه او دآخرت ذخیره وګرځوی.

اٰمین یاربّ العٰلمین بحُرمة سیّدالمرسلین صلی اللّٰه علیه وسَلم

مرتب کونکی

یوخادم دشیخُ العرب والعجم حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب مدظله

بسم اللہ الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى
اَمَّابَعْدُ فَاَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ. وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
اَلْمَرْأَةُ كَالضِّلْعِ اِنْ اَقَمْتَهَا كَسَرْتَهَا وَاِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَفِيْهَا عِوَجٌ

(بخاری صفحہ ۷۷۹ جلد ۲)

محترم اوریدونکو، عُلماءِ کرامو او محترم دوستانو! زه کوښښ کوم چی په آسانه الفاظو سره خپلی خبری تاسی ته وړاندی کم او زه دا امید لرم چی تاسی به زما په خبره پوه سی انشاء اللّٰه تعالٰی. دغه وخت یو ډیر ضروری مضمون درته بیانوم چی په هغه کی زمونږ څخه ډیری غلطی کیږی، که څه هم هغه پیر وی، عالم وی، تاجر وی یا که جاهل دغه مضمون چی زه درته بیانوم دهر قسم خلکو دپاره ضروری دی او دغه مضمون څه شی دی؟ دغه دالله ﷻ دمخلوق سره ښه اخلاق کول دی.

حضرت علامه بدرُالدین عینی رحمة اللّٰه علیه چاچی دبُخاری شریف شرح عمدةُ القاری لیکلی دی، ده دحضرت خواجه حسن بصری رحمة اللّٰه علیه خبره دابرار په تفسیر کی نقل کړی دی، دغه خواجه حسن بصری رحمة اللّٰه علیه داسی تابعی دی چاچی دیوسلوشلو (۱۲۰) اصحابو زیارت کړی دی، محدثینو لیکلی دی

﴿اِنَّ الْحَسَنَ الْبَصْرِیْ قَدْرَاٰی مِائَةً وَعِشْرِیْنَ صَحَابِیًّا﴾

دیو سلو شلو اصحابو زیارت کونکی دغه تابعی خواجه حسن بصری چی کله پیدا سو نو حضرت عمر رضی اللہ عنہ دده سنتِ تحنیك ادا کړی او سنتِ تحنیك څه شی دی؟ کله چی کوچنی پیداسی نو دخاندان یو نیك سړی عسل یا خرما وخوری بیا دهغه(عسلو یا خرما څخه) لږ غوندی ناوړی دکوچنی په خوله کی ورکړی، ددې نوم

سنتِ تحنیك دی. دحسن بصری سنتِ تحنیك امیرُالمؤمنین حضرت عمرؓ اداکړی. په اصحابو کی چی چاته دټولو تر مخه دامیرُالمؤمنین لقب ورکړل سو هغه حضرت عمرؓ دی، دچا پر ایمان راوړلو چی په آسمانو کی خوشحالی جوړی سوې او دغه عزت ورکړل سو چی حضرت جبرئیلؑ نازل سو او وې فرمایل چی یامحمدﷺ

﴿اِسْتَبْشَرَاَهْلُ السَمَآءِ بِاِسْلَامِ عُمَرَ﴾ (ابن ماجہ صفحہ ۱۱)

نن دعمر داسلام پر راوړلو باندی ملائکی په آسمان کی خوشحالی جوړوی. تاسی فکر وکی چی څونه درجه يې وه ددې خلګو چی پر اسلام راوړلو يې، کلمه ویلو يې په آسمانو کی ملائکو خوشحالی جوړی کړې او دغه خبر راوړونکی حضرت جبرئیلؑ هغه وخت یو آیت په راوړلو سره نازل سو هغه کوم آیت وو؟

﴿يَآيُّهَاالنَّبِيُّ حَسْبُكَ اللّٰهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ (سیپاره ۱۰ سورت انفال)

اې نبی ستا دپاره اللّٰه کافی دی او ستا تابعداره او غلامان دغه مسلمانان هم ستا دپاره کافی دی. ددې تر مخه داسی آیت نه وو نازل سوی، که څه هم څلویښت کسانو ایمان راوړی وو لاکن دحضرت عمرؓ دایمان دراوړلو وروسته دغه آیت نازل سو، ددې آیت دنازلیدو مقصد حضرت عمر دی یعنی دده اسلام راوړل ددې آیت دنازلیدو سبب وګرځیدی چی اې نبی اللّٰهﷻ ستا دپاره کافی دی او عمرؓ غوندی دلاوره او طاقتوره صحابی تاته درکول کیږی داسی تابعداره مسلمانان هم ستا دپاره کافی دی.

ددې آیت په تفسیر کی حضرت تهانوی رحمة اللّٰه علیه فرمائی چی ﴿يَآيُّهَاالنَّبِيُّ حَسْبُكَ اللّٰهُ﴾ باندی ﴿وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ ولی عطف کړل سوی دی یعنی داللّٰهﷻ دکفایت وروسته دایمان والو دکفایت تذکره ولی سوې ده، دچا دپاره چی اللّٰهﷻ کافی سی نو داللّٰه تعالیٰ دکفایت وروسته بیا دمومنانو دکفایت (دبیانولو) څه ضرورت وو؟ (په دې خاطر چی) دحضرت عمرؓ شان يې ښکاره کول (مقصد) وو چی دده دراتګ سره سم په کعبه شریفه کی اذان وسو او په جماعت سره لمونځ وسو، دده دایمان دراوړلو سره سم اصحابو دتکبیر ناره پورته کړل تردې حده چی تر مکې شریفی

پوری دتکبیر ږغ ورسیدی او وه رسول اللّٰهﷺ ته یې عرض وکړی چی موږ پر حق یو نو موږ په پټه ولی لمونځ وکړو، لهٰذا دوه قطاره یې جوړکړل پر یو قطار یې سیدُالشهداء حضرت حمزهرضی الله عنه مقرره کړی او پر بل قطار باندی خپله ودریدی او رسول اللّٰهﷺ یې په مینځ کی راوستی او په دواړو قطارو کی یې رسول اللّٰهﷺ تر مکې شریفی پوری راوستی او لمونځ ئې وکی او اسلام یې سر لوړه کړی.

﴿كَانَ الْإِسْلَامُ قَبْلَ اِسْلَامِ عُمَرَ فِیْ غَايَةِ الْخَفَاءِ وَبَعْدَهٗ عَلٰى غَايَةِ الْجَلَاءِ﴾

اسلام ترمخه چی څونه پټ وو دده دایمان راوړلو وروسته هغونه ښکاره سو.

حضرت تهانوی رحمة اللّٰه علیه فرمائی چی په دغه آیت کی اللّٰهجل جلاله دخپل کفایت سره دمومنانو کفایت په دغه خاطر بیان کړی چی دکفایت دوه قسمه دی، یو حقیقی کفایت دی چی په اصل کی خو بس اللّٰهجل جلاله دبنده دپاره کافی دی لاکن یو ظاهری کفایت هم وی، دفوج او لښکر طاقت هم وی چی په ظاهره هم پر دښمنانو باندی بیره ولویږی. په (طواف کی) دا رَمل ولی دی چی لږ په ځغاسته تګ وکی؟ پر کافرانو باندی دخوف دپاره دی. نو اللّٰهجل جلاله وفرمایل چی اې نبی ستا دپاره اصل کفایت کونکی خو اللّٰه دی لاکن حضرت عمر غوندی طاقتوره صحابی او نور ځان قربان کونکی اصحاب تاته درکوم چی په ښکاره هم پر دښمنانو باندی بیره ولویږی.

نو معلوم سول چی ظاهری اسباب هم نعمت دی، دخپلو دوستانو پر تعداد باندی شکر ادا کړی، که ته دمدرسې مُهتمم یې یا دیو اداري مدیر یې او اللّٰهجل جلاله تاته ددینی خدمت دپاره کومك کونکی درکړی نو ته داللّٰه تعالٰی شکر اداکړه ځکه چی دا ظاهری کفایت دی، حقیقی کفایت کونکی خو بس اللّٰهجل جلاله دی، هم اللّٰهجل جلاله دبنده دپاره کافی دی مګر ظاهری اسباب هم یو نعمت دی، نو دحضرت عمررضی الله عنه دایمان وروسته اسلام څونه پر مخ ولاړی.

نو دحسن بصری رحمة اللّٰه علیه سنتِ تحنیك حضرت عمررضی الله عنه اداکړی، څنګه خوش بخته کوچنی دی دغه چی دامیرُالمؤمنین حضرت عمررضی الله عنه ناوړی دچا

وه سینې ته تاسی دهغه دعلم او فضل په څه حال وی او دحسن بصری مور دحضرت اُمِّ سلمۃ رضی اللہ عنہا په کور کی مزدوری کوله، جاروکښی به یې کوله، سودا به یې راوړله، سُبحان اللہ! څونه مبارك کوچنی دی دغه، دچا مور ته چی دنبوت په خاندان کی، دنبی په کورنۍ کی کار ورپیداسی. حسن بصری رحمة اللّٰه علیه چی به کله ژړل او مور به یې هلته نه وه حضرت اُمِّ سلمۃ رضی اللہ عنہا به خپلی شیدې ورکولې. محدثینو لیکلی دی چی یا ئې دآرامولو دپاره ځکر په خوله کی ورکوی چی کوچنیان په دغه سره آرامیږی یا به ئې په کرامت کی ځکر شیدې کولې. دحسن بصری رحمه اللّٰه علیه دابرار (دلفظ) تفسیر مخته را روان دی. رسول اللّٰه صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد فرمائی چی

﴿اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِّسَانِهٖ وَيَدِهٖ﴾ (بخاری صفحہ ۶ جلد ۱)

کامل او پوخ مسلمان، پر اللّٰه جل جلالہ ډیر ګران مسلمان هغه دی چا دژبی او لاس څخه چی وبل مسلمان ته تکلیف ونه رسیږی.

دلته علامه بدرُالدین عینی رحمة اللّٰه علیه یو علمی سوال قائم کړی دی چی آیا په پښو باندی دوهلو اجازه سته ځکه چی په حدیث کی صرف دغه ویل سوی دی چی په ژبه سره تکلیف مه ورکوه او په لاس سره تکلیف مه ورکوه، ددې جواب ورکوی چی دبدن کومی برخی چی دتکلیف دورکولو دپاره ډیر استعمالیږی هغه صرف دوه دی، ژبه او لاس، دپښو نوبت خو ډیر کم رائځی، نو کومی برخی چی دتکلیف دورکولو دپاره ډیر استعمالیږی چی دهغو دحفاظت کوښښ وسی نو په پښو دوهلو نوبت خو ډیر کم رائځی، دهغه په قبضه کی راوستل خو ډیر آسانه دی.

یو هندو (په هندوستان کی) زمونږ دپیر مولانا شاه ابرارُالحق صاحب څخه پوښتنه کړې وه (چی تاسی وایاست) چی مسلمان هغه دی چی دده دتکلیف څخه صرف مسلمان خلاص وی نو ددې معنٰی خو دغه سول چی کوم خلګ مسلمانان نه دی یعنی هندوانو او کافرانو ته ښه تکلیفونه ورکوه، نو زمونږ پیر جواب ورکړی چی یا ! ځکه چی دمسلمانانو راکړه او ورکړه دمسلمانانو سره ډیره وی نو کله چی په کثرت

سره یو دبل سره ژوند کونکی(یعنی مسلمانان) په خپل مینځ کی یو او بل دتکلیف څخه وساتی نو دهندوانو سره لیدل او واخه او راکه خو کله کله وی هغه خو به بیخی دمسلمانانو څخه په امن وی. لکه دوه لوښی کوم چی یوځای اوسیږی کله چی ددغه دوو لوښو تر مینځ تَك او ټوك نه پیښیږی نوکوم لوښی چی لیری ځنی اوسیږی دهغو سره به ئې څنګه جنګونه پیښیږی. البته دجهاد حکم جلا دی. لاکن په عام حالاتو کی که کافران صلح وکړی یا مسلمانان په تکلیف نه کړی نو دوی خو به بیخی دمسلمانانو دژبی او لاسو څخه په امن وی ځکه چی دمسلمانانو ددوی سره ډیره معامله نه پیښیږی. دغه جواب زمونږ شیخ ورکړی او ماته یې نقل کړی.

علامه عینی رحمه اللّٰه علیه یو بل علمی سوال هم کړی دی چی آیا په ژبه سره څوك چاته تکلیف ورکولای سی، په ژبه کی خو هڅوکی هم نسته، دغوښو یوه پسته ټوټه ده، په ژبه سره که څوك سړی ووهی نو آیا هغه به خوږسی یاکه دژبی په الفاظو سره تکلیف رسیږی، نو بیا رسول اللّٰهﷺ دغه ولی نه دی فرمایلی

﴿اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ اَلْفَاظِ لِسَانِه﴾

یعنی مسلمان هغه دی دچا دژبی دالفاظو څخه چی بل مسلمان محفوظه وی. ددې سوال جواب ورکوی چی یا! بعضی وخت بیله دالفاظو په ژبه سره هم خلګ چاته تکلیف ورکوی، درسول اللّٰهﷺ دنبوت علم ته دالفاظو د اداکیدو کمال ورکړل سوی وو، په دغه خاطر نبی علیه السلام ﴿مِنْ اَلْفَاظِ لِسَانِه﴾ نه دی فرمایلی (په دې خاطر) چی په دغه حدیث پاك کی هغه خلګ هم شامل سی﴿مَنْ اَخْرَجَ لِسَانَهٗ اِسْتِهْزَاءً﴾کوم چی په ژبه سره یو چا ته پیښې وکی، هغه وخت پیښې کونکی سړی په ژبه سره هیڅ الفاظ نه وایی، صرف ژبه راوباسی او دپسخنده یې ماضی وښوروی او وځغلی، اکثره کوچنیان داسی کوی کله چی هغه وګوری چی وهل راکول کیږی او بدله نسو اخیستای نو پیښې وکی او ځنی وځغلی، بعضی وخت یې لویان هم وکی ژبه راوباسی او سره وې ښوروی او داسی په چا پسخند ووهی او په خوله هیڅ ونه وایی. وګوری

دنبوت دکلام څونه بلاغت دی ﴿اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِّسَانِهٖ﴾ یې وفرمایل چی په دغه حدیث کی هغه خلګ هم داخل سول کوم چی صرف په ژبه سره چاته تکلیف ورکوی که څه هم په ژبه سره هیڅ ونه وایی، که ﴿مِنْ اَلْفَاظِ لِسَانِهٖ﴾ وای نو په ژبه سره تکلیف ورکونکی به په دغه حدیث پاك کی شامل نه وای، دغه دنبوت دکلام دبلاغت کمال دی.

نو ما عرض کاوه چی اَبرار کوم خلګ دی، ګوری صرف دوه قسمه قومونه دی یو ابَرار(نیك بندګان)، دوهم فُجَّار(نافرمانه خلګ).

﴿اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِیْ نَعِیْمٍ﴾(سیپاره۳۰سورت انفطار)

نیك بندګان به په جنت کی عیش کوی

﴿وَاِنَّ الْفُجَّارَ لَفِیْ جَحِیْمٍ﴾(سیپاره۳۰سورت انفطار)

او نافرمانه خلګ به په دوږخ کی سوځل کیږی.

نو موږ اَبرار(نیك بندګان) څنګه جوړیدای سو، څنګه دنیکانو په کتاب کی زموږ نوم ولیکل سی او دَابرار څه معنٰی ده؟ خواجه حسن بصری رحمة اللّٰه علیه دَابرار تفسیر داسی کوی چی اَبرار هغه خلګ دی

﴿اَلَّذِیْنَ لَا یُؤْذُوْنَ الذَّرَّ﴾(عمدۃالقاری صفحہ۱۳۲جلد۱)

کوم چی میږیانو ته هم تکلیف ورنه کړی

﴿وَلَا یَرْضَوْنَ الشَّرَّ﴾(عمدۃالقاری صفحہ۱۳۲جلد۱)

او کوم چی(دخدای) په نافرمانی خوشحاله نسی

نه په خپل ګناوو خوشحاله سی، نه دنورو په ګناوو خوشحاله سی. دخدای نافرمانی په لیدو سره دهغو زړه غمجن سی، خپله ګناه یې وی یاکه بل څوك په ګناه کی ووینی نو زړه ته یې غم ورسیږی، دا دالله ﷻ (سره دهغو) دتعلق دلیل دی. دچا چی دخپل پلار سره محبت وی نو دپلار نافرمانی کونکی ورونه په لیدو سره دهغه زړه غمګین سی چی تاسی زما څنګه ورونه یاست چی پلار ته تکلیف ورکوی، نو کوم خلګ چی

خدایﷻ ناراضه کوی دهغو ګناوی په لیدو سره هغه مومن دچا په زړه کی چی دخدای محبت وی هغه غم محسوسوی.

زمورِ شیخ شاه عبدالغنی رحمة الله علیه وفرمایل چی دخدای یو دوست روان وو، یو سړی ئې په ګناه کی ولیدی، بس بیرته راغلی، دونه غمجن سو چی دتللو طاقت یې ختم سو، راغلی پر چارپائی پریوتی، پټو یې پرځان واچوی، ژړا یې شروع کړل، غمګینه سو چی آه زما درب نافرمانی کیږی، دوه ساعته باد چی کله بولو ته ولاړی نو په بولو کی یې وینه راغله دونه غمجن سو. دغه دی دخدای دوستان. نن مورِ ګناوی کوو او تیغ هم نه کاږو دخانقاوو په ماحول کی، داولیاوو په ماحول کی. فکر وکی چی کله دقیامت په ورځ پوښتنه راځخه وسی چی تاسی ته اللهﷻ دینی ماحول درکړی وو، دنیکو خلګو په ماحول کی تاسی دا رنګه غلط کارونه کول، فکر وکی او خپل حساب وکړی.

بس دا دالله‌ﷻ حلم او کرم دی چی مورِ په عذاب کی نه نیسی، هغه حلیم او کریم ذات دی بس وقت راکوی چی شاید اُوس توبه وکاږی کیدای سی اُوس توبه وکاږی. مفتی اعظم پاکستان مفتی محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه ماته خپل یو شعر وویلی، دخدای شکر دی چی ماته الله پاك دلوی لوی بزرګانو سره داوسیدلو سعادت په خپل کرم سره بې له استحقاقه رابخښلی دی. مفتی صاحب خپل دغه شعر راته وویلی

ظالم ابھی ہے فُرصتِ توبہ نہ دیر کر
وہ بھی ِگرا نہیں جو ِگرا پھر سنبھل گیا

ترجمہ: ظالمه اُوس هم وخت سته په توبه کولو کی ځنډ مه کوه، هغه هم لویدلی نه دی کوم چی بیرته ځان راپورته کی.

یعنی که انسان توبه وکاږی نو اللهﷻ ته دګناهګاره سړی توبه، ژړا او فریادونه، آه و زاری او دپښیمانی اُوښکی څونه قیمت لری دغه واوری، کله چی

ګناهګاره بنده دخپلو ګناوو په یادولو سره وه خدای ته ژاړی چی اې خدایه زما څخه بدکار وسو ما وبخښه، ما معاف که، ما مه رسوا کوه، ماته سزا مه راکوه، زه کمزوره یم، ستا ددوږخ دعذاب برداشت په ماکی نسته نو هغه وخت دهغه اُوښکی دشهیدانو دوینو په برابر تلل کیږی.

وګوری مولانا جلالُ الدین رومی رحمة اللّٰه علیه کوم چی دټول دنیا عُلماء یې تسلیموی (چی ډیر لوی دخدای دوست وو) هغه فرمائی

کہ برابر می کند شاہِ مجید
اشک را در وزن با خُونِ شھید

اللّٰه ﷻ دپښیمانی اُوښکی، دخدای دبیری څخه راتوی سوی اُوښکی دشهیدانو دوینو په برابر تلی. پر دغه مضمون باندی د درده ډك زما دوه شعرونه دی او ویونکی ته داسی محسوسیږی لکه دمولانا رومی صاحب کلام چی دی.

هغه شعرونه دغه دی

قطرۂ اشکِ ندامت در سجُود
ھمسری خُونِ شھادت می نمُود

دپښیمانی هغه اُوښکی چی په سجده کی دګناهګارانو تر سترګو راسی دونه قیمتی دی چی دالله ﷻ رحمت هغه دشهیدانو دوینو په اندازه تلی. لکه څنګه چی په حدیث شریف کی دی

﴿لَیْسَ شَئیٌ اَحَبَّ اِلَی اللّٰهِ مِنْ قَطْرَتَیْنِ وَاَثَرَیْنِ قَطْرَةِ دُمُوْعٍ مِنْ خَشْیَةِ اللّٰهِ وَقَطْرَةِ دَمٍ یُهْرَاقُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ. الخ﴾ (مشکوٰة، کتاب الجهاد صفحه ۳۳۳)

یعنی وه اللّٰه ﷻ ته هیڅ شی تر دوو څاڅکو ډیر محبوب نه دی، یو هغه داُوښکو څاڅکی چی دخدای دبیری څخه (تر سترګو) راتوی سوی وی او دوهم دوینی هغه څاڅکی چی دخدای په لاره(جهاد) کی توی سوی وی. او زما دوهم شعر دی

هر کجا گرید به سجده عاشقے
آں زمیں باشد حریم آں شے

چیری چی دخدای یو عاشق په سجده کی ژاړی نو هغه وخت دمځکی هغه ټوټه دهغه عاشق دپاره دخدای دربار جوړسی.

په زاری سره دژړا کونکو دپاره علامه آلوسی دخپل تفسیر روحُ المَعَانی ددیرشمی(۳۰) سیپاړې د﴿اِنَّا اَنزَلْنَا﴾ دسورت په تفسیر کی یو حدیثِ قُدسی نقل کړی دی. حدیثِ قُدسی هغه حدیث دی چی دنبی علیه السلام دژبی څخه راووځی مګر دغه ووایی چی(دغه خبره) اللّٰه جل جلاله داسی فرمایلې ده.

نو رسول اللّٰه ﷺ فرمائی چی اللّٰه جل جلاله داسی فرمایلی دی چی کله یو بنده په زاری سره بخښنه غواړی چی اې اللّٰه زما څخه ډیری ګناوی وسوې ته ما وبخښنه، قبر ته به په کوم مخ درځم، دقیامت په ورځ به تاته څنګه مخ دربښکاره کوم نو دده دغه زاری کول دخدای دونه خوښ دی چی دده دزاری دغه ږغ وه خدای ته دخلګو دسُبحان اللّٰه سُبحان اللّٰه تر تسبیحاتو ډیر خوند ورکوی.

اُوس نو دحدیثِ قُدسی الفاظ هم واوری. اهلِ علم حضرات دی دتفسیر روحُ المَعَانی ددیرشمی(۳۰)سیپاړې د﴿اِنَّا اَنزَلْنَا﴾ په تفصیل کی دغه حدیث وګوری.

رسول اللّٰه ﷺ فرمائی چی اللّٰه تعالیٰ داسی فرمائی

﴿لَاَنِیْنُ الْمُذْنِبِیْنَ اَحَبُّ اِلَیَّ مِنْ زَجَلِ الْمُسَبِّحِیْنَ﴾(صفحہ۱۹۶جلد۳۰)

دګناهګارانو ژړا، آه کول، زاری کول ماته دتسبیح ویونکو دسُبحان اللّٰه سُبحان اللّٰه تر آوازو ډیر محبوب دی. او ددیوبند دمدرسې جوړونکی مولانا قاسم نانوتوی رحمة اللّٰه علیه یو عجبه خبره وفرمایل چی ما دخپل شیخ مولانا شاه عبدالغنی رحمة اللّٰه علیه څخه په څو واری واوریدل.

زمونږ پیر دحضرت تهانوی رحمة اللّٰه علیه دلوی خلیفګانو څخه وو او دحضرت مولانا اصغر میا صاحب رحمة اللّٰه علیه دزمانې وو، دغه دواړو بزرګانو یعنی

زمونږ شیخ او مولانا اصغر میا صاحب په جون پور(هندوستان) کی یوځای په مدرسه کی درس ورکوی. په دغه خاطر مفتی اعظم پاکستان مفتی محمد شفیع صاحب به زمونږ پیر ته ویل چی حضرت صاحب ته خالی زما پیر برادر نه یې بلکې زه تا دخپل استاد په درجه کی هم بولم ځکه چی تا زما د اُستاد مولانا اصغر میا صاحب سره په یوه ځای کی درس ورکوی.

نو مولانا قاسم نانوتوی صاحب وفرمایل په کوم ملك کی چی پاچا یو شی دبل ځای څخه راوغواړی، دیو بل ملك څخه یې طلب کړی یعنی راوغواړی نو پاچا دهغه شی ډیر عزت او قدر کوی ځکه چی دبادشاه په ملك کی هغه شی نسته نو مولانا قاسم صاحب به فرمایله دالله ﷻ دلویی او جلال چی کوم دربار دی په هغه کی اُوښکی نسته په دغه خاطر الله ﷻ زمونږ داُوښکو ډیر قدر کوی ځکه چی اُوښکی خو دګناهګاره بندګانو راتویږی، دملائکو ژړا نه ده زده ځکه چی دهغو سره پښیمانی نسته، هغوته دعبادت قُرب خو حاصل دی، دپښیمانی قُرب نه دی ورته حاصل، دپښیمانی قُرب خو مونږ ګناهګارانو ته حاصل دی.

په دغه خاطر مولانا شاه محمد احمد صاحب فرمائی

کبھی طاعتوں کا سرور ہے کبھی اعترافِ قصُور ہے
ہے مَلک کو جس کی نہیں خبر وہ حضور میرا حضُور ہے

ترجمہ: کله دعبادتو خوندونه دی کله پر ګناوو دپښیمانی خوندونه دی، چی ملائکی نه دی په خبری حاصل ماته داسی خوندونه دی.

دخدای ددوستانو دپښیمانی کوم خوندونه چی دی ملائکو ته هغه نعمت نه دی حاصل ځکه چی دهغو څخه خطاوی نه کیږی، ملائکی پښیمانی څه پیژنی، هغه خو هر وخت سُبحان الله وایی، هغه خو پاك مخلوق دی، الله ﷻ په دې خاطر یو داسی مخلوق(یعنی انسان) پیدا کی چی دهغو پښیمانی وګوری یعنی دبعضی بندګانو څخه سر بیره دټینګی ارادې چی کله دبشری تقاضې څخه دمغلوبیدو په خاطر ګناه وسی نو

په دې غم کی چی آه ما خپل رب ناراضه کړی دهغو زړه به وینی سی او په پښیمانی او زاری سره او دبخښنی په غوښتلو سره به ما راضی کړی او زه(اللہ سبحانہ وتعالیٰ) به ددې پښیمانی دلاری دخوا ودوی ته خپل قُرب(نژدیوالی) عطا کړم. علامه آلوسی سید محمود بغدادی رحمة اللّٰه علیه په خپل تفسیر روحُ المَعَانی کی دسُلطان ابراهیم ابنِ اَدهَم قصه لیکلې ده، ددنیا دپاچاهانو قصه آیا په تفسیروکی راتلای سی؟ دا هغه پاچا دی چی سلطنتِ بلخ یې داللّٰه پر نامه قربان کړی، په دغه خاطر نن په تفسیرو کی دده قصې رائی، سلطنت یې ورکړی او پر خدای قربان سو نو

اب مرِ انام بھی آئے گا ترے نام کے ساتھ

ترجمہ: اُوس به زما نوم هم یادیږی ستا دنامه سره.

وګوری(روح المعانی صفحہ۱۰۴) دځلورمی سیپارې دسورتِ آل عمران د﴿**اِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا**﴾په تفسیر کی علامه آلوسی دسُلطان ابراهیم ابنِ اَدهَم تذکره کړې ده، یعنی شیطان کله تاسی خطاباسی، پر تاسی باندی کله قدرت پیدا کوی؟ کله چی تاسی ګناه وکړی، د﴿**بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا**﴾څخه معلوم سول چی دیوې ګناه څخه بله ګناه پیداکیږی لکه څنګه چی دیوې نیکی څخه دبلی نیکی کولو توفیق ډیریږی. کله چی بنده ګناه وکړی، بدکارونه وکړی نو په زړه کی یې تاریکه پیدا سی، بیا شیطان په دغه تاریکه کی قبضه وکړی، کنې شیطان طاقت نه لری چی دمومن پر زړه باندی قبضه وکړی ﴿لامجال له علی ابن ادم بالوسوسة الا اذا وجد ظلمة فی القلب﴾ دشیطان طاقت نسته چی دآدم علیہ السلام داولادو پر زړه باندی قبضه وکړی لاکن کله چی په زړه کی (دګناوو) تاریکه ووینی نو په مثل دشو پرك راسی او پر ګناه کولو باندی سړی آماده کوی. لاکن که سړی په پښیمانی سره توبه وکاږی نو دپښیمانی په نور سره به زړه بیرته روښانه سی او شیطان به ځنی وځغلی. دچاچی زړه وغواړی چی شیطان ژر دزړه څخه وباسی نو هغه دی ژر توبه وکاږی، په توبه کولو کی دی ځنډ نه کوی کنې شیطان به دغه زړه خپله اډه او مرکز جوړ کړی.

ددا غه آیت په تفسیر کی یې دسُلطان ابراهیم ابنِ اَدهَم رحمة اللّٰه علیه قصه لیکلې ده چی ده طواف کوی او وه خدای ته یې خواست کاوه چی اې خدایه ماته عصمت راکه یعنی زما څخه هیڅ وخت ګناه ونسی، زه معصوم(دملائکو په شان بې ګناه) سم، نو په زړه کی (دخدای دطرفه څخه) ږغ پر وسو چی اې ابراهیم اِبن اَدهَم! ﴿**كُلُّ عِبَادِهِ يَسْئَلُوْنَهُ الْعِصْمَةَ**﴾ټوله انسانان دګناوو څخه دپاکیدو خواست کوی که خدای ټوله معصوم کړی ﴿**عَلٰى مَنْ يَّتَكَرَّمُ وَعَلٰى مَنْ يَّتَفَضَّلُ**﴾ نو بیابه خدای (خپل)کرم پر چا کوی او مهربانی به پر چا کوی، که ټوله انسانان ملائکی سی نو اللّٰه ﷻ به څوك بخښنی، دده مغفرت به پر چا ښکاره کیږی.

دامام غزالی صاحب استاد امام اسفرائینی رحمة اللّٰه علیه خبره مُلّا علی قاری رحمة اللّٰه علیه دمشکوٰة شریف په شرح کی لیکلی دی چی ده هم دیرش(۳۰) کاله خواست وکی چی یااللّٰه ما معصوم کړه، زما څخه هیڅ وخت غلطی ونسی، هیڅ خطا راڅخه ونسی، دیرش(۳۰) کاله وروسته په زړه کی خیال وروګرځیدی چی اللّٰه ﷻ دونه کریم ذات دی لاکن زما ددیرشو(۳۰) کالو دعا یې (تر اُوسه) نه ده قبوله کړې، دستی یې په زړه کی (دخدای دطرفه څخه) ږغ واوریدی چی اې اسفرائینی! ته دګناوو څخه پاکیدل غواړې لاکن ستا دګناوو څخه دپاکیدو مقصد څه شی دی؟ هم داغه ستا مقصد دی چی ته زما محبوب جوړیدل غواړې، چی ستا دغه مقصد دی نو ما دمحبوب دجوړیدو دپاره دوې دروازې خلاصی کړی دی، (یوه دتقوا او بله دتوبې ده) ته دمعصومیت او دتقوا پر دروازې ولی مُښتی یې، آیا ته زما ددغه آیت تلاوت نه کوې چی ﴿**اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ**﴾(سیپاره۲ سورت بقره) اللّٰه ﷻ توبه کونکی هم خپل محبوب ګرځوی. نو چی ما دتوبې یوه بله دروازه هم خلاصه کړې ده نو (ماته) دهغې دروازې څخه ولی نه راځې، که غلطی درڅخه وسی نو په توبه کولو سره بیرته ما راضی که.

که څوك په رشتیا سره توبه وکاږی او ټینګه اراده وکی چی اې اللّٰه بیابه

هیڅکله ګناه ونه کړم، مړ به سم خو بیا به تا خوابدی نه کړم لاکن دپوره کوښښ سربیره بیا دده توبه ماته سی او دی بیا په پښیمانی سره وخدای ته توبه وکاړی، ژړا وکی، عاجزی وکی او بیا ئې دګناه کولو اراده نه وی نو په حدیث پاك کی دی چی داسی سړی پرګناه باندی په ټینګار کولوکی نه دی حساب، که څه هم په ورځ کی اویا(۷۰) واره دده توبه ماته سی. لهٰذا پر ګناوو باندی پښیمانی کونکی دی ناامیده کیږی نه.

غالب یو دنیاوی شاعر وو هغه ویلی وه

کعبہ کس مُنہ سے جاؤ گے غالب
شرم تم کو مگر نہیں آتی

ترجمہ: وه کعبې شریفی ته به په کوم مخ ورځې اې غالبه، (دګناوو په سبب) ته نه شرمیږې.

دِلّه آباد(هندوستان) هغه بزرګ مولانا شاه محمد احمد صاحب دچا وه صحبت ته چی دمُصنَّف عبدالرزاق پر کتاب باندی عربی حاشیه لیکونکی مولانا حبیبُ الرحمٰن اعظمی او مولانا علی میا ندوی غوندی لوی عُلماء ورځی او زمونږ شیخ حضرت مولانا شاه اَبرارُالحق صاحب هم ورځی، دغه بزرګ وفرمایل چی غالب شاعر خو اُمّت ناامیده کړی، دده دغه شعر په ویلو سره چی څونه ګناهګاره بندګان دی دشرم په خاطر به کعبې شریفی ته تګ پریږدی چی زمونږ مخ ددې لایق نه دی چی وه کعبې شریفی ته ولاړ سو، مونږ خو په ګناوو اخته یو، لهٰذا ددې شعر اصلاح شرعاً واجب وه نو مولانا محمد احمد صاحب وفرمایل چی ما ددې شعر داسی اصلاح وکړه، ستاسی څخه هیله کوم چی دخدای ددوست کلام واوری او دا فیصله وکړی چی دیو دنیاوی شاعر او دیو خدای ددوست په شعرکی څونه دمځکی او آسمان فرق وی، فرمائی چی

میں اسی مُنہ سے کعبہ جاؤں گا
شرم کو خاک میں ملاؤں گا
اُن کو رو رو کے میں مناؤں گا
اپنی بگڑی کو یُوں بناؤں گا

ترجمہ: زہ په داغه مخ وه کعبې شریفی ته ځم، شرم په خاورو ګډوم، خدای په ژړا راضی کوم، زه خپل کار داسی سموم.

تاسی ووایاست که ماهی لس واره ونیسی او دُوبو څخه یې راوباسی او هر واری دماهی څخه پوښتنه وکړی چی آیا اُوبو ته په تلو کی ته نه شرمیږې، تا لس واری دغه بې عقلی کړې ده چی لس واری دُوبو څخه راوتلی یې، نو ماهی به ورته ووایی چی زر واری دغه بې عقلی وکړم لاکن اُوبه خو زما ژوند دی. همدغه رنګه دالله ﷻ درحمت غیږ دمومن دپاره (دقرار) ژوند دی، موږ به ترڅه وخته دخدای څخه ځغلو، که شیطان په موږ یو لك ګناوی وکړی لاکن موږ به په زاری سره، په سجده کی په ژړا سره (بیرته) خدای ﷻ راضی کړو. په دې خاطر زموږ خواجه عزیزُ الحسن مجذوب صاحب فرمائی

جو ناکام ہوتا رہے عُمر بھر بھی
بہرحال کوشش تو عاشق نہ چھوڑے
یہ رشتہ محبت کا قائم ہی رکھے
جو سوبار ٹوٹے تو سو بار جوڑے

ترجمہ:که سړی ټوله عمر (دګناه کولو په سبب) ناکامه کیدی، خو عاشق دی (دخدای دراضی کولو) کوښښ نه پریږدی، دغه (دخدای سره) دمحبت تعلق دی قائم وساتی، که دغه تعلق (دګناوو په خاطر) سل واری مات سی نو سل واره دې بیرته (په توبه کولو سره) قائم کړی.

توبه چی کله ماته سی نو سړی ناامیده سی چی زما توبه بیکاره سوه، زما وروره هغه توبه بیکاره نسوه بیا توبه وکاړه، دخدای سره مات سوی تعلق بیرته قائم که، (په شعر کی) فرمائی

یہ رشتہ محبت کا قائم ہی رکھے
جو سوبار ٹوٹے تو سو بار جوڑے

ترجمہ: دغه (دخدای سره) دمحبت تعلق دی قائم وساتی، که دغه تعلق (دګناووپه خاطر) سل واری مات سی نو سل واره دې بیرته (په توبه کولو سره) قائم کړی.

کوښښ خو وکه چی توبه ماته نسی، دګناوو څخه دځان ساتلو خپل پوره کوښښ وکه لاکن که بیا هم هرواری توبه درځخه ماته سی نو ناامیده کیږه مه، په وار وار بیا توبه وکاړه. دتوبې دقبلیدو دپاره دونه کافی ده چی سړی دهغه ګناه څخه لیری سی، په زړه کی پښیمانه سی او ټینګه اراده وکی چی بیا به هیڅکله دغه ګناه ونه کم یعنی په زړه کی به ئې بیا دګناه کولو اراده نه وی نو داسی توبه وه اللہ ﷻ ته قبوله ده. لهذا هیڅکله مه ناامیده کیږه، که ګناه درځخه وسی نو ژړا او زاری شروع کړه، دخدای ماسوا بل څوك سته چی موږ وبخښی، دخدای ددربار ماسوا بل کوم دربار دی چی موږ ورسو. لهذا ټوله عمر کوښښ کول دی، دخدای درضا دپاره کوښښ کول پکار دی.

تمام عمر تڑپنا ہے موجِ مضطر کو
کہ اس کا رقص پسند آگیا سمندر کو

ترجمہ: ټوله عمر به څپه رقص کوی، ځکه چی دهغه رقص دسمندر خوښ سو.

دبزرګانو سره مشوره وکی، داولیاوو په صحبت کی کښینی، خپل ایمان او یقین مظبوط کړی، دمرګ فکر وکړی، دقیامت او ددوږخ فکر وکړی، دګناوو څخه دځان ساتلو طریقې داولیاوو څخه وه پښتی، دهغو سره واوسیږی او دګناوو دماحول

او اسبابو څخه ډیر لیری واوسیږی کنې سړی وګناوو ته ورکشیږی لکه په یو پیشی چی لس حجه وکې او بیا یو موږك ورښکاره کړې نو دهغې پیشی بریتونه به دستی ورته شخ سی او غر غر غر به شروع کړی، همدغه رنګه نفس په مثل دپیشی دی که دګناوو څخه ځان ساتې نو دګناوو داسبابو څخه لیری اوسه کنې نفس به په مثل دپیشی دګناوو وخواته ورکش سی. کوم سړی چی ځان دګناوو وه اسباب ته نژدې ساتی هغه (داسی دی) لکه دخدای غضب او لعنت ته چی ځان ورنژدې کوی. اللّٰہ ﷻ ارشاد فرمائی

﴿تِلْکَ حُدُوْدُ اللّٰہِ فَلَا تَقْرَبُوْهَا﴾ (سیپاره۲سورت بقره)

دا دالله حدود دی دې ته ورنژدې کیږه لامه.

فکر وکی که څوك کم عمره انجلی (په کورکی) دمزدوری دپاره ودروی، نن سبا دلته(په جنوبی افریقه کی) چی کوم غریبان اوسیږی (هغه عیسویان دی دلته) مسلمانان خو دمزدوری دپاره پیدا کیږی نه، داغه عیسویانی انجونی پیداکیږی، نو پنځلس یا شل کلنه انجلی مزدوره کړی په هغې کالی پریولی، شپه او ورځ پر هغې باندی نظر مبنلی او وائی چی دا خو توره ده، بدشکله ده، هر څنګه چی وی دغه په یاد وساتی په دې کی خطر دی، په ښه غوږ یې واوری چی پیشی هر څونه کمزوره سی، ریږدی، تګ هم نسی کولای لاکن دموږك په لیدو سره ددې دماغ خرابیږی. په دغه خاطر بزرګانو فرمایلی دی چی

بھروسہ کچھ نہیں اس نفسِ امّارہ کا اے زاہد
فرشتہ بھی یہ ہوجائے تو اس سے بدگماں رہنا

ترجمہ: باور هیڅ نسته پر دې نفس امّاره باندی اې زاهده، که نفس ملائکه هم سی نو به هم ځنی بدګُمانه یې.

نفس که ملائکه هم سی، ښه تهجد ګزاره سی لاکن ته هیڅکله ښځو او

لغړنو هلکوانو ته مه ورنژدې کیږه، ددوی څخه ځان ساته. په دغه خاطر زه درته وایم چې په خرید او فروش کې، په کورو کې، په بازارو کې، په دفترو کې ددوی څخه لیرې اوسې، په خاصه دعُمرې څخه چې بیرته راځې نو په طیاره کې وه ائیرهوسټسو(په طیاره کې کار کونکو ښځو) ته دخور خور په ویلو سره خبرې مه کوی. بعضی خلګ وائی چې دخور په ویلو سره به دا په موږکوك بوتل وغیره وچیښی لاکن زه درته وایم چې ته صبر وکه، وه بدن ته تکلیف ورکه لاکن هغې ته په کتلو سره خبرې مه کوه، دنظر حفاظت ورڅخه وکه کنې دعمرې ټوله نور به دی ضایع سی.

که حکومت دغه اعلان وکی چې درې ورځې اُوبه نه راځی او تا لوړه دُاوبو ټانکی ډکول شروع کړه لاکن لاندی دی دټانکی نلکې خلاصی پریښولې، ټوله شپه دی ټانکی دُاوبو ډکه کړه لاکن سهار چې دی وکتل نو ټوله اُوبه توی سوی وې او په ټانکی کی هیڅ هم نسته، همدغه رنګه موږ حج او عمره، ذکر او تلاوت خو ډیر کوو لاکن دحواسِ خمسه (پنځو حواسو) کومی نلکې چې په موږکی سته هغه خلاصی پریږدو یعنی دغوږ په نلکه مو غزله واوریدل، غیبت مو واوریدی، دسترګه په نلکه مو نامحرمه ښځو ته وکتل، دژبه په نلکه مو غیبت وکی، درواغ مو وویل دغه رنګه دعبادتو ټوله نور ددغه نلکو دلاری څخه ووځی، په دې خاطر موږ ته دالله ﷻ دنامه خوند نه حاصلیږی، زموږ دعبادتو نور دوام نه لری، د﴿**رَبَّنَا اَتۡمِمۡ لَنَا نُوۡرَنَا**﴾څخه معلومیږی چې دنور دوام هم نعمت دی.

مولانا رومی رحمة الله علیه فرمائی کوم خلګ چې ګناه نه پریږدی دهغو دذکر، دتهجد او دجمله عبادتو مثال داسی دی لکه دشپې چې یو کور ته غل وروادښتی، دکور خاوند په خبر سو چې زما کور ته غل راغلی دی، په اولو وختو کی به دډبری په مړلو سره روښنائی کیدل، دهغه ډبری نوم چقماق وو، دکور خاوند ډبره

ومړل دروښنائی دپاره چی زه غل وپیژنم لاکن غل هم ډیر هوښیار وو غل چی څونه شیان راټولول نو ډبری ته به یې هم کتله چی څنګه یې ومړی نو زه به ګوته پر کښیږدم، چی هغه به روښنائی وکړه غل به ګوته پر کښیښول او روښنائی به یې مړه کړل او په توره شپه کی یې پر آرامه غلا وکړل او آخر یې ټوله شیان یووړل. همدغه رنګه شیطان زمونږ دعبادتو پر نور باندی ګوته کښیږدی یعنی مونږ په ګناوو کی په اخته کولو سره زمونږ ټوله سرمایه(عبادتونه) راڅخه یوسی.

مولانا رومی رحمه اللّٰه علیه فرمائی چی څونه غنم کرل او غنم راټولول ضروری دی هغونه دمونږکانو څخه هوښیار اوسیدل هم ضروری دی کنې ټوله غنم به درڅخه یوسی. په دغه خاطر زمونږ بزرګان دقرآن پاك او دحدیث پاك په رڼا کی دتقوا داختیارولو اهتمام ورښوی. که عبادت دسړی لږوی مګر هغه تقوا داره وی نو به دخدای دوست سی، نفلونه که څه هم ډیر نه کوی، ټوله شپه په تهجد کی نه وی ولاړ، (بس) دماخوستن دلمانځه کولو وروسته بیده سی او دسهار لمونځ په جماعت وکی، یو څه تلاوت وکی، یو څه ذکر وکی لاکن یوه ګناه هم نه کوی، دګناوو څخه ځان ساتی، هر وخت پر خپل نفس باندی پام کوی نو دغه سړی دخدای دوست دی او یو سړی دی چی ټوله شپه په تهجد کی ولاړوی لاکن سهار چی کله دوکان ته ولاړی او یوه بنځه دیو شی درانیولو دپاره راغله بس هغې ته یې کتل شروع کړل یعنی بدنظری یې شروع کړه او کله هغې ته خور وایی کله خاله ورته وایی، په خوند خوند خبری ورسره کوی نو دغه سړی دخدای دوست نسی کیدای. په ګناوو سره دعبادتو ټوله نور ختم سی.

ما دغه عرض کاوه چی ټوله مخلوق دالله ﷻ عیال دی، دخدای تر ټولو لوی دوست هغه دی کوك چی مخلوق په عذاب نه کړی، دمخلوق سره مخلص وی تردې حده چی دکافر سره هم مخلص وی یعنی دالله ﷻ دحُکم باید پابنده اوسی. دیوې

کافری ښځی سره هم زنا کول روانه ده، بعضی خلګ شیطان خطاباسی چی دغه ښځه خوکافره ده، دا خو مالِ غنیمت دی پورته ئې که، هغه یې پر جهاد باندی قیاس کوی چی په جهاد کی به څنګه کافرانی ښځی بندیانی سوې او وه مسلمانانو ته به په مالِ غنیمت کی ورکړل سوې، اُوس هغه قانون ختم سو، په بین المللی معاهدې سره اُوس مینځه او غلام جوړول ختم سول. خُلاصه یې دغه ده چی وه کافری ښځی ته کتل هم روانه دی، یو کافر لغړزنی هلك ته کتل هم روا نه دی. دالله ﷻ دمخلوقاتو حقوق دمسلمان پر ذمه دی.

کله چی اصحابِ کرام دشام ملك دفتح کولو دپاره روان وه نو عیسویانو دهغو په لار کی ښائستې انجونی ودرولې چی کله مسلمانان وه دغه انجونو ته وګوری نو ددوی ایمانونه به کمزوره سی او دالله ﷻ کومك به ځنی ایسته سی لاکن دمسلمانانو دفوج قومندان دغه آیت (وټولوته) وویلی

﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ﴾ (سیپاره۱۸سورت نور)

اې نبی! وایمان والو ته ووایه چی هغه خپلی سترګی کښته وساتی.

اصحابو خپل نظر کښته کی او تیر سول، یوه اصحابی هم دیوې عیسوی انجلی حُسن ته نه دی کتلی، هغو انجونو وخپلو پلرو ته وویل تاسی چی موږ دکوم مقصد دپاره لیږلی وو تاسی ټوله په هغه کی ناکامه سواست، دغه خلګ خو ملائکی دی ملائکی، هغو خو تر سترګو پورته هم موږ ته نه دی کتلی.

نو زما دوستانو! دټوله مخلوق سره مُخلص اوسی، څونه مخلوق چی دی هغه ټوله په خپل دعاوو کی شامل کړی، څنګه؟ اې الله وکافرانو ته ایمان ورکړې، لکه څنګه چی یوخوك دنالایق زوی دپاره (دهغه) وپلار ته ووایی چی ته پر ده باندی رحم وکه (همدغه رنګه) ته وه خدای ته داسی ووایه چی دټوله دنیا کافرانو ته ایمان ورکړې او دایمان لرونکو دپاره (داسی) دعا وکه چی اې الله وایمان والو ته تقوا ورپه نصیب

کړې یعنی خپل خاصه دوستی ورته عطا کړې او څوك چی په تکلیف اخته دی هغوته عافیت ورکړې، څوك چی مریضان دی هغوته صحت ورکړې، تردې حده چی دمیړیانو دپاره هم دعا وکی چی اې اللّٰه په غارو کی چی کوم میړیان دی پر هغو باندی هم ورحمیږې، دماهیانو دپاره هم دعا وکی چی اې اللّٰه په دریابو کی په سمندرو کی چی کوم ماهیان دی پر هغو باندی هم رحم وکړې. داولیاوو خو دغه کار وو چی دټوله مخلوق دپاره یې خیر غوښتی او احترام یې کاوه. وګوره که ستا دیو چا سره دوستی ده نو ته دهغه سړی دپیشی هم احترام کوې، دهغه دسپی هم احترام کوې. دخدای دټوله مخلوق چی څوك خیر خواه سی اللّٰه ﷻ هغه خپل محبوب جوړ کړی. یوې ښځی ته هم مه ګوری، یوې کافری ښځی ته هم په بدنظر مه ګوری، دټوله مخلوق سره مُخلص اوسی، انشاء اللّٰه تعالٰی دِیر ژر به داللّٰه ﷻ محبوب وګرځی. رسول اللّٰه ﷺ فرمائی

﴿اَلْخَلْقُ عَیَالُ اللّٰہِ فَاَحَبُّ الْخَلْقِ اِلَی اللّٰہِ مَنْ اَحْسَنَ اِلٰی عَیَالِہٖ﴾ (مشکوٰۃ صفحہ ۴۲۵)

ټوله مخلوق دالله عیال دی، لهٰذا دالله ﷻ تر ټولو محبوب هغه څوك دی چی دخدای دمخلوق سره ښه اخلاق وکی.

یوه ورځ حضرت ډاکټر عبدالحئی صاحب کوم چی دحضرت تهانوی رحمة اللّٰه علیه ډیر خاص خلیفه وو راته وفرمایل چی یوه ورځ یې خپلی ښځی وه حکیمُ الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة اللّٰه علیه ته وویل چی زه سبا دخپلوانو کره ځم ته پر اته(۸) بجې زما چرګان خلاص که دانه او اُوبه بیا ورکه، اُوس نو حکیمُ الاُمَّت چی دپنځلس سوه(۱۵۰۰) کتابو لیکونکی دی دهغه څه په یادیږی چرګان خلاصول او اُوبه ورکول، دحضرت صاحب هیر سول، خانقاه ته راغلی، هره ورځ اندازاً شپیته خطه (دمریدانو داصلاح دپاره) راتلل، په هغوکی به دلوی لوی عُلماوو خطونه وه، دخطو جواب ته کښینستی نو هیڅ جواب یې پر زړه نه راتلی، دقرآن شریف تفسیر بیانُ القرآن لیکلو ته کښینستی نو هیڅ مضمون یې پر زړه نه

راتلی، قلم یې ودرې دی، په زړه کی تاریکه ورته محسوسه سول نو وه خدای ته یې وژړل چی اې خدایه! زما څخه کومه غلطی وسول، ته یې په زړه کی راواچوه چی توبه وکړم. حضرت تهانوی رحمة اللّٰه علیه به فرمایل چی کله دخدای سره دانسان تعلق قوی سی نو په زړه کی ډیر غږ پر کیږی چی دغه وکه او دغه مه کوه.

تم سا کوئی ہمدم کوئی دمساز نہیں ہے
باتیں تو ہیں ہردم مگر آواز نہیں ہے

ترجمہ: (اې اللّٰه) ستا غوندی ملګری او رازداره څوك نسته، (په زړه کی) خبری خو هر وخت سته مګر آواز نسته.

نو په زړه کی (دخدای دطرفه څخه پر حضرت صاحب) ډیر غږ وسو چی اې اشرف علی تا زما یو مخلوق بندکړی دی، چرګان وډی دی، د اته(۸) پر ځای نه(۹) بچې سوې، یو ساعت کیږی چی هغه ناقراره دی، زما یو مخلوق ستا په خاطر په تکلیف دی، بیا تاته څنګه علم درکم، په داسی حال کی ستا څخه څنګه سرکاری(ددین) کار واخیستل سی، ورسه ژر چرګان خلاص که، حضرت تهانوی صاحب ور وځغستل، دخانقاه څخه ولاړی چرګان یې خلاص کړل او ژر یې دانه او اُوبه ورکړې، چی بیرته راغلی نو ټوله علم یې بیرته پر زړه جاری سو. زما دوستانو! وه چرګانو ته دتکلیف درسیدو قصه خو اورو لاکن نن موږ پر خپلو ښځو باندی ژوند حرام کړی دی، نو ووایاست چی موږ څونه دالله ﷻ ناراضی او غضب رانیسو. ما خو نن داغه مضمون بیانوی لاکن ددې سره دخدای په فضل سره دا نور مضمونونه هم بیان سول. اُوس اصل موضوع شروع کوم، الله ﷻ دښځو په باره کی سفارش نازل کړی دی. په قرآن شریف کی اللّٰه تعالٰی فرمائی

﴿وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ (سیپاره۴سورت نساء)

دخپلو ښځو سره ښه وضعیت کوی.

دی، دمړو خدمت یې کړی دی، د اولاد دپیدا کیدو تکلیف یې پر ځان وړی دی. دحدیث پاك الفاظ دغه دی

﴿بِصَلَاتِهِنَّ وَصِيَامِهِنَّ وَعِبَادَتِهِنَّ اَلْبَسَ اللّٰهُ وُجُوْهَهُنَّ النُّوْرَ﴾ (روح المعانی صفحہ ۱۲۶ جلد ۲۷)

ددوی دلمونځو، روژو او ددوی دعبادتو په خاطر به ددوی پر مخانو باندی اللّٰه ﷻ خپل نور واچوی چی دا به اضافی (ښائست) وی.

په حورو کی به دغه نور نه وی، اللّٰه تعالیٰ چی پرچا باندی خپل نور واچوی دهغه دحُسن به څه حال وی. ددنیا ژوند څوشپې دی، په سفر کی سړی ته سمی چای نه رسیږی نو هغه وخت سړی څه وایی چی ځه وروره هر څنګه چای چی دی وې چیښه، تودې اُوبه دی یی دریزش او زُکام څخه خو به خلاص سې، کور به بیا سمی چای وچیښې. همدغه رنګه ددنیا ژوند هم یو سفر دی دلته هر څنګه ښځه چی دی په نصیب سوې ده دهغې سره ژوند تیر که، په جنت کی به داغه ښځه تر حورو ډیره ښائسته کړل سی. داسی نه چی ښځه دی ډیره ښائسته نه ده نو هغې ته هر وخت پیغور ورکوې، په عذابه وې یې، فکر وکه که ستا لور ډیره ښائسته نه وای نو تا څه غوښتل، آیا تا دغه خوښول چی ستا زوم دا په عذاب کړی ووایاست دوستانو! پر خپل زړه باندی لاس کښیږدی که ستا لور ډیره ښائسته نه وی یا ډیر درد ورځی نو به ته څه وغواړې چی ستا زوم هغې ته وهل ورکړی، په سوتی یې ووهی، ښکنځل ورته وکی او ورته ووایی چی ته چیری زما په قسمت کی نوشته وې، ته خو بنګی یې.

ماته یو پیسه داره سړی راغلی او راته وې ویل چی زما دلور دپاره یو تعویذ راکه، هغې ته درد ډیر ورځی، دهر چا کور ته چی ورسی نو څه معلومه ده چی دهغه څخه به څونه وهل وخوری. تر اوسه یې واده هم نه دی سوی او دونه دلور فکر. زما دوستانو! زمونږ ښځی خو هم دیو چا لونې دی، دخپل لور دپاره تعویذ اخلې که یا، زما دوستانو او بزرګانو راته ووایاست که ستاسی لور زوم درپه عذاب کړی، دهغې وخواته

ونه ګوری یا پر یوه خبره باندی خوشکه ورته وکړی، ښځه خبری ورسره کول غواړی او دده تسبیح په لاس کی دی. ښځه بیچاره ټوله ورځ ستا په انتظار وه او ته په خپل کار اخته وې یا دی په دوکان کی ټوکران خرڅول، دا ټوله ورځ درته تېرې وه چی اُوس به می میړه راسی نو زړه به ورسره خوشحاله کم مګر ته چی کورته راغلې نو تسبیح دی راواخیستې، داسی (بزرګ سوې) چی بابا بایزید بُسطامی او بابا فریدُالدین عطار غوندی اولیاء هم درڅخه وشرمیږی او دا خبره واوری کورته څنګه داخلیږی سترګی پټی تسبیح په لاس کی لکه خواجه معینُ الدین چشتی اجمیری چی کور ته راننوزی (البته دغه خبره په ذهن کی وساتی چی دغه اولیاء کرام سترګی پټی په ترش مخ کور ته نه داخلیدل بلکې پر سنت طریقه په خندا او خوشحاله مخ به کورته داخلیدل خو دا خبره موږ دزړه ددرده فقط ستاسی دپوهیدو دپاره کړې ده) تاسی ووایاست چی آیا دغه دښځو حق دی؟

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چی رسول اللّٰه ﷺ به کله کور ته راننوتی نو په خندا به راننوتی. (دخلګو په رقم) سترګی پټی پر عرشِ عظیم باندی به نه اوسیدی بلکې پر مځکه باندی د اوسیدونکو حق به یې هم ادا کاوه، کنې دنبی علیه السلام سره دامّت څونه غم ورسره وو، هر وخت دکفارو سره جنګ، یو جهاد ختم سو تر اُوسه توره ایښول سوې نه وه چی دبل جهاد اعلان وسو لاکن پر دې سربیره هیڅکله داسی نه ده پیښه سوې چی نبی علیه السلام دی کور ته په خندا نه یی داخل سوی. وه خپلو ښځو ته په خندا ورتلل دغه سنت نن پاته سوی دی، کوم چی بې دینه خلګ دی هغه لکه فرعون چی راسی، لوی لوی بریتونه، سترګی سرې کی چی پر ښځو باندی لږ سام ولویږی او داسی نه وی چی ښځه ماته یو څه ووایی په دې خاطر پر هغې باندی دسام لویدو په خاطر دنمرود او فرعون په شان (کورته) داخلیږی او کوم چی دینداره دی هغه دبابا بایزید بُسطامی، خواجه معینُ الدین چشتی او بابا فریدُ الدین عطار په شان (کورته) داخلیږی، په مراقبه

کی سترګی پټی نیولی لکه پر عرش چی اوسیږی، لکه دمځکی خبری چی پیژنی نه، دغه دواړه قسمه ژوند دسنت خلاف دی. کورته چی وخپلی ښځی ته ورځې نو په خندا ورځه، دهغې سره خبری وکه، هغه وخت تر تسبیح ویلو ډیر ثواب په دغه کی دی چی دښځی حق ورادا کړې. رسول اللّٰهﷺ فرمائی چی تر ټولو دښه اخلاقو خاوند هغه څوك دی دچا اخلاق چی دخپلی ښځی سره سم وی. موږ خو په دوستانو کی ښه خندا کوو، مسخرې کوو او چی ښځی ته ورسو نو بزرګ راځخه جوړسی، مخ پرسولې لکه خندا چی مو زده نه ده او ښځه بیچاره حیرانه یی چی یااللّٰه زه ګرده ورځ دده په انتظار وم چی مابنام به راسی دمیړه سره به خبری وکم، ورسره وبه خاندم مګر دده څه خو دډبری بت جوړ دی. دغه (دښځی سره) خندل او خبری کول په عبادت کی داخل دی، ټوله شپه نفل کول او دښځی سره خبری نه کول دغه د اصحابو دسنت هم خلاف دی.

یو کم عمره اصحابی ته یو بزرګ اصحابی ورغلی، هغه کم عمره اصحابی عبادت شروع کړی نو هغه بزرګ اصحابی ورته وفرمایل﴿**اِنَّ لِضَیْفِکَ عَلَیْکَ حَقًّا**﴾ ستا دمیلمه پر تا حق دی، زه ستا میلمه یم، زما سره خبری وکه، بیا ئې ورته وفرمایل چی ورسه اُوس نو دخپلی ښځی حق ادا که ﴿**اِنَّ لِزَوْجِکَ عَلَیْکَ حَقًّا**﴾ دهغې سره هم خبری وکه. نو زما دوستانو! ما عرض درته کاوه چی حضرت تهانوی رحمة اللّٰه علیه فرمائی چی اللّٰهجَلَّجَلَالُهٗ دخپلو ښځو سره دښه اخلاق کولو په باره کی په دغه آیت ﴿**وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ**﴾کی سفارش نازل کړی دی، کوم خلګ چی دخدای سفارش نه منی دهغو دپاره دحضرت تهانوی رحمة اللّٰه علیه الفاظ دی، دا زه نه وایم، حضرت تهانوی رحمة اللّٰه علیه چی دخپل زمانې مُجدّد وو هغه فرمائی چی څوك خپلی ښځی په عذابه کړی، دهغو سره بد ژوند وکی او دااللّٰهجَلَّجَلَالُهٗ سفارش ونه منی نو دا بې غیرته خلګ دی. ځکه چی ښځه کمزوره ده، ستا په قبضه کی ده، پلار او ورور یې ځنی لیری دی او د دوو درو کوچنیانو وروسته خو نوره هم کمزوره سی او نارینه خو

په هګۍ خوړلو سره پهلوانان سی بیا پر ښځو باندی پهلوانی ښکاره کوی، خپل طاقت پر ښځه باندی ښکاره کوی، وایی چی صاحبه څه وکم! زه په درد کی لیونی سم، ښځی ته وایم چی دسمال راپریوله خو دا یې نه پریولی، نن می ورته وویل چی دسمال راپریمینځه لاکن دې نه دی پریمینځلی. ای زما وروره! تا ښځه مزدوره ولی بللې ده، خپل دسمال خپله پریوله، ماندینه خو ددې دپاره نه ده چی بس ستا کالی به درپریولی، خپله یې پریمینځه لاکن دامه په عذابه وه، په درد کی مه لیونی کیږه.

زما یو دوست دی په کراچی(پاکستان) کی هغه وایی چی کوم خلګ دغه خبره کوی چی ما ته درد ډیر رائی، زه په قهر کی لیونی سم، دا غلطه خبره ده، په قهر کی هیڅکله څوك نه لیونی کیږی، درد ډیر هوښیار دی، درد پر کمزوره باندی لیونی کیږی، دیو سیر طاقت خاوند دنیم سیر طاقت پر خاوند باندی خپله خوشکه ښکاره کوی لاکن په هغه وخت کی که دیو سیر څخه دزیات طاقت خاوند یو پهلوان راغلی لکه محمد علی بوکسر غوندی او یو سوك ئې ورښکاره کړی نو هغه وخت یې درد څه وایی بخښنه راته وکه بخښنه راته وکه او پیښی ځنی جوړه سی، اُوس یې دغه عقل دکومی خوا پیدا کی، اُوس خو په درد کی لیونی وو. نو معلوم سول چی په درد کی هیڅوك نه لیونی کیږی دا ټوله دبې عقلی خبری دی. بیاهم د قهر علاج درښوم.

دجدې(سعودی) څخه ماته کراچی(پاکستان) ته یو خط راغلی (لیکلی وه) چی په ما کی او زما په ښځه او کوچنیانو کی خوشکه ډیره ده، ټوله کورنۍ په یو عذاب اخته ده، ما ورته ولیکل چی﴿**بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ**﴾ اووه(۷) واره ووایه او پر ډوډی باندی یې دم که هغه وخت چی دسترخوان اوارسی او ټوله وډوډی ته کښینی، او په دم کولو کی دنارو لږ غوندی ذرې هم باید پر ډوډی ولویږی مګر لږ غوندی داسی نه چی یوه توله (نارۍ) پکښی توکړې، بیا ئې څوك خوری. مُلّا علی قاری رحمة اللّٰه علیه دمشکوٰة په شرح کی لیکلی دی چی﴿**خُرُوْجُ الْبُزَاقِ مِنَ الْفَمِ**﴾ ددم کولو په

وخت کی دی دنارو لږ غوندی ذړې (په ډوډی کی) ولویږی. هغه (دسعودی) خاندان زما پر خبره باندی عمل وکی، یوه میاشت وروسته خط راغلی، لیکلی یې وه چی دالله درحمٰن او رحیم دنامه په صدقه په موږ ټولو کی درحمت شان غالبه سو، زموږ خوشکی ختمی سوې، زموږ طبیعتونه نرم سول. دالله ﷻ ډیر لوی نوم دی.

زما دوستانو! صلاح خو وکی، نن دبزرګانو سره، داولیاوو سره یا داولیاوو دخادمانو سره موږ تعلق پریښوی، په خپله خپل علاج کوو نو فائده به څنګه وی. هیڅ روحانی مرض(ګناه) داسی نه دی چی هغه ښه نسی، ته پوښتنه وکه او عمل په وکه، دځلویښتو کالو دګناوو عادت که هم څوك ولری نو (دپریښولو دپاره) دی صلاح وکړی انشاء الله تعالی که ښه نه سو نو بیا ووایاست چی حکیم محمد اختر په مسجد کی څه ویل. لاکن مریض په خپله نه ښه کیږی، دډاکټر سره دی صلاح وکړی (همدغه رنګه) کوم روحانی ډاکټران(اولیاء) چی پر سنت باندی دعمل کونکو بزرګانو تربیت یافته او اجازت یافته دی دهغو سره (دګناوو دپریښولو په باره کی) صلاح وکړی انشاء الله تعالی ګناوی به درڅخه پاته سی.

نو ما دغه درته ویل چی کوم خلګ خپلی ښځی په عذابه وی که دهغې پنډ پنډ پهلوانان ورونه دمحمد علی بوکسر غوندی راسی او درته ووایی چی وروره ولی دا زموږ خور راپه عذابه وې، بیابه وګورو چی څنګه یې په عذابه وې. دوستانو دخدای څخه وبیریږی، ګوری دآسمان څخه یو څوك موږ ته ګوری چی دی زما دبنده(خپلی ښځی) سره څنګه ژوند کوی. دښځو زړه دونه نازك وی که دی فقط څه ورته وویل چی نن زه ډیر ستړی یم، ستا څه پاته دی ګرده ورځ بیده یې، نو دا ټوله شپه ژاړی، خوب نه ورځی، دهغې فریاد آسمان ته رسیږی چی یاالله زه دده دمحبت وږې وم چی راسره وبه خاندی، خبری به راسره وکی لاکن دی خو داسی ستړی راسی چی دستی بیده سی. میړه بیده یی او دا ژاړی، (پوه سی چی) ددې اُوښکو ته الله ﷻ ګوری، داسی ظالم مړونه ما په

سخت عذاب کی اخته ولیدل.

یو سړی صرف په دې خاطر چی ښځه یې توره وه بدرنګه وه، صرف دنفسانی خواهش په خاطر یې پر شپږو کوچنیانو سربیره هغې ته طلاق ورکی. دا اوریدلې قصه نه ده، په خپلو سترګو می لیدلې ده، سړی به دغه ویل چی زما مور غلطی کړې ده، زما ددې سره ګزاره نه کیږی، اُوس زه دډیری ښائستې ښځی سره واده کوم. ښځی یې ورته وویل چی زه دی نه وم خوښه نو دغه شپږ کوچنیان دکومه سول، اول سر به دی ماته طلاق راکړی وای نو زما واده به (بل ځای) په آسانه سوی وای، اُوس چی دی دشپږو اولادو مور کړم بیا طلاق راکوې، میړه ورته وویل چی بس زه مجبوره یم، اُوس یې نور نسم برداشتولای، اُوس زه دیوې ښائستې ښځی سره واده کوم او دې طلاقه یې ورکړه، کله چی هغه ښځه دشپږو کوچنیانو سره (دکوره څخه) راووتل نو یې وآسمان ته وکتل. پرداسی حال باندی دیو بزرګ شعر دی

ہم بتاتے کسے اپنی مجبوریاں
رہ گئے جانبِ آسماں دیکھ کر

ترجمہ: ما خپله مجبوری چاته بیان کړې وای، بس آسمان ته می وکتل.

هغه سړی دوهم واده وکی او دډیری ښائستې ښځی سره یې وکی، شپږ میاشتی نه وې تیری سوی چی پر سړی باندی دفالج مرض ولویدی، لس کاله ژوندی وو، پر بستر باندی یې غول او بولی کولې او دوهمه ښځه هم ځنی ولاړه چی ددا سی سړی سره به زما ګزاره څنګه کیږی. وګوری دغه نتیجه وی، دچا ازار مه اخلی.

رسول اللّٰه ﷺ فرمائی دبخاری شریف حدیث دی

﴿اِتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ فَاِنَّهٗ لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللّٰهِ حِجَابٌ﴾ (بخاری۳۳۱ جلد۱)

دمظلوم د آه (ازاره) څخه وبیریږی (ځکه) چی د آه او اللّٰه تر مینځ هیڅ پرده نسته.

دغه خبره یو دخدای دوست داسی بیانوی

زمونږ پیر حضرت مولانا ابرارُالحق صاحب مدظله یوځای کښینستی او اودس تازه کول یې شروع کړل بیا (دستی) دهغه ځای څخه ولاړسو دوهم ځای کښینستی، بیا دهغه ځای څخه هم ولاړسو دریم ځای کښینستی، یو چا پوښتنه ځنی وکړه چی حضرت دا څنګه معامله ده، حضرت صاحب جواب ورکړی چی هلته میږیان وه، د اوداسه په اُوبو سره به میږیان تاش په تاش سوی وای، دمیږیانو خاندان به اخوا دیخوا ته سوی وای، په دغه دوی ته تکلیف رسیدی. دغه یې دخدای دوستان کوم چی میږیانو ته هم تکلیف نه ورکوی.

دوستانو! په دې خاطر عرض درته کوم چی دخپلو ښځو څخه بخښنه وغواړی، اُوس لا وخت سته، دقیامت ورځ ډیره سخته ورځ ده، خپلی ښځی ته ووایه که زما څخه یو تکلیف در رسیدلی وی، په درد کی می یو څه درته ویلی وی نو هغه راوبخښنه، او پاته سوه دغه خبره چی ښځی موږ ولی په عذابه وی نو پوه سی که ښځی نن دلته (په پرده کی دبیان داوریدلو دپاره) جمع وای نو دهغو ومخته به ما ستاسی طرف نیولی وای، ښځی به می پوه کړی وای چی دخپلو مړو عزت وکی، هغه مه خوابدی کوی کنې ستاسی هیڅ عبادت به نسی قبول لاکن اُوس خو تاسی زما په لاس راغلی یاست، په دې خاطر دعوه ستاسی پر خلاف جوړه ده چی دمړو دخوا چی دښځو کوم حق وهل کیږی هغه راوګرځول سی. او دخپلو ښځو سره دښه وضعیت کولو او دهغو پر تکلیفو باندی دصبر کولو دوې قصې درته وړاندی کوم چی دغه نصیحت پکښی کی دی که تا ښځه په عذابه وی یا دهغې په طبیعت کی خوشکه ډیره وی یا ترخې ترخې خبری درته کوی نو هغه برداشت که ته به دالله ﷻ محبوب وګرځې، دمثال په توګه که ستا دلور ژبه ترخه وی لاکن زوم دی ښه په نصیب سوی وی او ستا لور راسی درته ووایی چی زه ودته ترخې خبری وکم، په عذاب یې کم، خوشکه هم په ماکی ډیره ده لاکن پلاره ستا زوم ملائکه دی ملائکه، زما څخه هیڅ

وخت انتقام نه اخلی بلکې په خندا راځخه ولاړسی، هیڅ نه راته وایی، دوستانو! موږ هم زړه لرو، پر زړه باندی لاس کښیږدی راته ووایاست چی دپلار زړه به یې څه غواړی، آیا دهغه زړه به دغه ونه غواړی چی یو تعمیر می درلودای نو دزوم پر نامه کړی به می وای، موټرکه می درلودای نو دته به می ورکړی وای. دالله ﷻ کومی بندګانی چی بدطبیعته دی، دردمنی دی، دهغو تیزی او ترخې خبری چی کوم خلګ پر ځان وړی نو الله ﷻ هم ددغسی بندګانو څخه دونه خوشحاله سی چی هغوته دخپلی دوستی اعلی او لوړ مقام ورپه نصیب کړی، الله ﷻ داسی خلګ خپل ډیر لوی ولیان جوړ کړی.

اُوس نو دوې قصې درته وړاندی کوم بیا نو بیان ختموم، زما اراده خو دمختصره بیان وه لاکن ستاسی په برکت ډیر مضمونونه (پر زړه) راغلل او دا فکر هم وکی چی دکراچی (پاکستان) څخه تردې ځایه څونه فاصله ده، دلته هرواری راتلل آسانه کار نه دی، نه تاسی زما ژبه هرواری لیدای سی او نه زه ستاسی غوږونه، ژبه دکراچی ده او غوږونه دجنوبی افریقه دی، لهٰذا که بیان لږ اوږد سو نو دحیرانی څه خبره ده. زموږ پیر حضرت مولانا شاه عبدالغنی رحمة الله علیه دبزرګانو دوې قصې راته کړی وې هغه واوری.

یو بزرګ حضرت مرزا مظهرجان جانان رحمة الله علیه دونه نازك طبیعته وو چی دوخت پاچا ودته راغلی، اُوبه یې ورسره وچیښلې او پر منګی باندی یې دُاوبو پیاله کړه کښیښول، دبزرګ پر سر درد سو لاکن صبر یې وکی، یوڅه وروسته پاچا عرض ورته وکی چی حضرت صاحب زه غواړم چی ستا دخدمت دپاره یو مزدور درکړم، دهغه تنخوا به موږ دشاهی خزانې څخه ورکوو، حضرت صاحب ورته وفرمایل چی تر اُوسه خو ما صبر کړی وو لاکن نور یې نسم برداشت کولای، چی ستا پر منګی باندی پیاله ایښول نه دی زده، پیاله دی کړه کښیښول زما پر سر دی را درد کی نو ستا

دمزدور به څه حال وی، بس معاف می که مزدور مه راکوه، دونه نازك طبیعته وو، که دلمانځه دپاره دډهلی جامع مسجد ته تلی او په لارکی یې چارپائی کړه پرته ولیدل نو پر سر به ئې درد سو، پرځان داچولو په څادر کی یې که یو تار غلط ګنډل سوی وو نو پر سر به ئې درد سو.

پر حضرت مظهرجان جانان رحمة اللّٰه علیه باندی الهام وسو(یعنی په زړه کی خدای وروا‌چول) چی اې مظهرجان جانان ته ډیر نازك طبیعته یې، زما یو بنده ده دژبې ډیره تیزه او ترخه ده که تا دهغې سره واده وکی او سم ژوند دی ورسره تیر کړی نو زه به ستا نوم په ټوله جهان کی در روښانه کم، تاته به دونه عزت درکړم چی په ټوله جهان کی به ستا نوم وی، ستا څخه به ددین ډیر زبردسته کار واخلم. حضرت صاحب دستی واده ورسره وکی، اُوس نو سهار او مابنام دهغې تیزی تیزی او ترخې ترخې خبری اوری لاکن څه انعام ورکړل سو چی دده خلیفه شاه غلام علیؒ (غوندی بزرګ) سو او دهغه خلیفه مولانا خالدکُردیؒ (غوندی بزرګ) سو دشام په ملك کی، دده (دمُریدی) په سلسله کی مُفسرِ عظیم علامه سیّد محمُود بغدادی رحمة اللّٰه علیه داخل سو او هم دده په سلسله کی علامه شامی ابنِ عابدین رحمة اللّٰه علیه بیعت سو. اللّٰهﷻ داسی روښانه کړی.

یو شاګرد یې وه حضرت مظهرجان جانان صاحب ته وویل چی حضرت نن ما ستا دپاره (ستا دښځی څخه) ډوډی وغوښتل نو هغې تاته ډیری بدی خبری وکړې، حضرت صاحب تا ولی دداسی ښځی سره واده وکی، حضرت صاحب ورته وفرمایل چی بې عقله ددې پر ترخو ترخو خبرو باندی دصبر کولو په سبب اللّٰهﷻ ماته خپل دونه تعلق او خپل دونه قُرب(نژدیوالی) راپه نصیب کړی دی چی نن په ټوله جهان کی زما نوم روښانه دی، ماته اللّٰهﷻ داسی عزت راکړی دی چی ما فکر هم نسوای کولای. دمخلوق پر تکلیفو باندی دصبر کولو انعام هم اللّٰهﷻ ډیر لوی ورکوی.

دوهمه قصه واوری یو بزرګ وه خدای ته دعا وکړه چی اې خدایه ماته یو کرامت راکړې، دغه ستا بنده(یعنی زما بنځه) ډیری ترخې ترخې خبری راته کوی، زه یې پرځان نسم وړای، (یاالله) ته ماته یو (داسی) کرامت راکړې چی زه خپل دبزرګی سام پردې واچوم او ما دخدای دوست وبولی او زما دښرا دبیری څخه ما په عذاب نه کړی، (پر بزرګ باندی) دآسمانه ږغ وسو چی پر خپل چارپایی باندی کښینه، زه به چارپایی ته دپه هَوا کیدو حکم ورکړم، پر چارپایی باندی دهغې پر سر تیرسه، بیا هغې ته ووایه چی ځنګه کرامت می درښکاره کړی، اُوس خو ما بزرګ وبوله او مه می په عذابه وه.

بزرګ پر چارپایی کښینستی هغه دستی په هَوا سول، د سرای پر سر دخپلی بنځی ومخته څو واره را وخرخیدی، بیرته چی راغلی دبنځی څخه ئې پوښتنه وکړه چی تابه نن یو بزرګ نه یی لیدلی، هغې ورته وویل چی نن می یو داسی بزرګ ولیدی چی په آسمان کی په هَوا وو، زما دسرای پر سر څو واره راوخرخیدی، دغه ته وایی بزرګ، یو ته یې چی ناحقه دی دځانه بزرګ جوړ کړی دی، هر وخت پر مځکه ګرځې، یو وخت ته هم په هَوا سوی یې، هغه بزرګ ورته وویل قسم په دخدای چی هغه زه وم خدای نن ماته کرامت راکړی، نو بنځه یې څه ورته وایی چی توبه توبه په داغه زه وایم چی دا کوږ کوږ ولی کیږی. تاسی وکتل دستی یې عیب پکښی راوایستی، اعتراض یې پر وکی، زبردسته اعتراض یې پر وکړی چی بنه دا ته وې هغه دی چی کوږ کوږ کیدلې، وګوری کرامت یې هم ورګډ وډ کړی.

یوه بله قصه راپه یاد سول هغه هم واوری. شاه اُبوالحسن خرقانی رحمة الله علیه یو بزرګ وو، دکرامت خاوند وو، دزر میله لیری څخه یو سړی دده دمُریدی دپاره راغلی، خرقانی رحمة الله علیه ځنګله ته دبوټو دپاره تللی وو. هغه سړی دپردې تر شا دخرقانی رحمة الله علیه دبنځی څخه پوښتنه وکړه چی شیخ صاحب چیری دی، دننه

څخه يې ښځی ورته وويل چی هغه شيخ چيری دی ميخ(ټګ) دی، هغه بيخی بزرګ نه دی ناحقه تاسی (دده په) قصه اخته ياست، شپه او ورځ خو زه دهغه سره اوسيږم، زه يې ښه پيژنم، تاسی يې څه پيژنی، اُوس نو هغه سړی بيچاره په ژړا سو چی ياالله زه دزر ميله ليری څخه راغلی يم دده دبزرګی په خاطر او دغه ښځه يې څه وايی، سړی ته دهغه کلی خلګو وويل چی ښځه يې ډيره بد اخلاقه ده، دا دشيخ صاحب کمال دی چی دداسی ښځی برداشت يې راوړی دی، ولاړسه په ځنګله کی په شيخ صاحب پسی وګرځه، ځنګله ته چی دی ورغلی نو وې کتل چی شاه اُبوالحسن خرقانی رحمة الله عليه پر شير باندی ناست راروان دی او بوټی يې هم دشير پر شا ايښی دی او دمار شلاخه يې هم په لاس کی ده، خرقانی رحمة الله عليه چی سړی وليدی نو ورته وې فرمايل چی شايد ته زما دکوره راروان يې چی داسی غمګين يې، زما دښځی څخه به دی يو څه اوريدلی يی، دهغه فکر مه کوه، زه چی دهغې سره ګزاره کوم او دهغې بداخلاقی او ترخې خبری پر ځان وړم دداغه په برکت سره الله ﷻ ماته دغه کرامت راکړی دی چی دغه شير زما په قبضه کی دی او زه دده څخه دمزدوری کار اخلم، هره ورځ پر ده باندی بوټی راوړم او دغه دمار شلاخه خدای تعالٰی ماته راکړې ده کله چی دغه شير ودريږی نو دمار په شلاخه يې وهم.

مولانا جلالُ الدين رومی رحمة الله عليه په مثنوی شريف کی دغه قصه بيان کړې ده او پر دغه ځای باندی يې يو شعر ليکلی دی کوم چی زمونږ پير مولانا شاه عبدُالغنی صاحب رحمة الله عليه به ويلی او په ډير خوند سره به يې ويلی

گرنہ صبر می کشیدے بار زن

که زما صبر ددې ښځی دترخو خبرو برداشت نه وای راوړی، ددې ښځی دبداخلاقی بار که زما صبر نه وای پورته کړی

کے کشیدے شیر نر بے گار من

نو پر دغه شیر باندی ما سواری کولای سوای، شیر زما مزدوری کولای سوای، اللّٰہ ﷻ دغه دهغه صبر په برکت راکړی دی.

دوستانو! زه داغه عرض درته کوم چی دخپلو ښځو په معامله کی دښه اخلاقو څخه کار واخلی، دهغو ترخې خبری برداشت کړی، که مو برداشتولای نسوای نو دیو څو دقیقو دپاره دکوره څخه دباندی ولاړسی. سعدی شیرازی رحمة اللّٰہ علیه فرمائی که دی ښځه ترخې خبری کوی نو په خوله کی یې میټایی ورواچوه چی ښکنځل یې هم تر خولې خواږه خواږه راووزی. عموماً خلګ ښځی په سوټی سموی که څه هم ښځی په سوټی نه سمیږی.

وګوری رسول اللّٰہ ﷺ فرمائی دبُخاری شریف حدیث دی﴿**اَلْمَرْأَةُ کَالضِّلْعِ**﴾ ښځه په مثل دکږې پوښتنې ده، ځکه چی دکږې پوښتنې څخه پیدا سوې ده لهٰذا په دې کی به یو څه نه یوځه کوږوالی وی﴿**اِنْ اَقَمْتَهَا کَسَرْتَهَا**﴾ که دی (دښځی) دسیده کولو کوښښ وکی نو ماته به یې کړې، تر طلاقه به نوبت ورسیږی﴿**وَاِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَفِیْهَا عِوَجٌ**﴾ اوکه ته دښځی څخه ګټه اخیستل غواړې نو ګټه ځنی واخله او په دې کی به کوږوالی پاته وی.

(دخپلو) کږو پوښتنې څخه فائده اخلې که یا او که یو وخت ډاکټر ته ورغلی یې چی زما کږې پوښتنې راسیده که همدغه رنګه دښځی دکوږوالی سربیره دهغې څخه فائده اخیستلای سې او دهغې څخه آرام به هم درته حاصل سی، اولاد به هم درته حاصل سی، کیدای سی چی دهغې څخه یو ولی اللّٰہ پیداسی کوم چی دقیامت په ورځ ستا دبخښلو ذریعه وګرځی ﴿**وَعَسٰٓی اَنْ تَکْرَهُوْا شَیْئًا وَّهُوَ خَیْرٌ لَّکُمْ**﴾ (سیپاره۲سورتِ بقره) اللّٰہ ﷻ فرمائی چی بعضی شیان ته نه خوښوې او په هغه کی ستا دپاره خیر وی. ته خو دغه فکر کوې چی (زما دښځی) پزه پیته ده، رنګ یې تور دی او ښائسته باید زما په نصیب سوې وای لاکن کیدای سی چی ددې څخه اللّٰہ ﷻ یو دخدای دوست عالم

حافظ پیدا کړی کوم چی دقیامت په ورځ ستا په کار درسی. په دې خاطر مخ ته یې مه ګوره. بعضی وخت مځکه توره او خرابه وی مګر هغه ډیره ښه غله کوی (همدغه سی) دتورو ښځو څخه دخدای دوستان پیدا سول او دښائستو ښځو څخه بعضی وخت شیطانان پیدا سول.

په دې خاطر خپلی ښځی حقیری مه بولی، رنګ او روغن ته یې مه ګوری، هر څنګه چی دی دهغو سره سم ژوند تیر کړی، که دښځو څخه ګټه اخیستل غواړی نو دهغو فطرتی کوږوالی به برداشته وی. دحدیث پاك الفاظ دی﴿**وَفِيْهَا عِوَجٌ**﴾ دبخاری شریف ددې حدیث په شرح کی علامه قسطلانی فرمائی چی (ارشادالساری صفحه۷۸جلد۸) ﴿**فِيْهِ تَعْلِيْمٌ لِلْاِحْسَانِ اِلَى النِّسَاءِ**﴾په دغه حدیث شریف کی تعلیم راکړل سوی دی پر ښځو باندی داحسان کولو ﴿**وَالرِّفْقِ بِهِنَّ**﴾ او دهغو سره دنرم وضعیت کولو﴿**وَالصَّبْرِ عَلٰى عِوَجِ اَخْلَا قِهِنَّ**﴾ او دهغو پر اخلاقی کوږوالی باندی دصبر کولو﴿**لِاِحْتِمَالِ ضُعْفِ عُقُوْلِهِنَّ**﴾ ځکه چی دهغو عقل کمزوره یې. دچا چی عقل کم وی هغه ژر جنګ کوی، په خلګو او کوچنیانو کی هم وګوری څوك چی کم عقله وی هغه ډیر جنګیږی، ښځی هم کم عقله دی په دې خاطر ددوی تیزی او ترخې خبری برداشت کړی. وګوری څونه ښه تعلیم په دغه حدیث پاك کی راکړل سوی دی چی دښځو دسیده کولو کوښښ مه کوی، دهغو کوږوالی برداشت کړی.

او اُوس به دغه آخری حدیث شریف درته وړاندی کم او مضمون به ختم کړم، کوم چی شاید نن خلګ اول واری واوری، په تفسیر روحُ المَعَانی کی دغه حدیث موجود دی، که تفسیر روحُ المَعَانی دلته وی نو هر وخت چی عُلماء وغواړی (دغه حدیث پاك) وربښکاره کولای سم، زما هیڅ خبره به انشاءاللّٰه بیله دلیل نه وی.

رسول اللّٰهﷺ فرمائی (روحُ المَعَانی صفحه۱۴جلد۵) ﴿**يَغْلِبْنَ كَرِيْمًا**﴾ دښځو طبیعت

داسی دی کوم چی نرم طبیعته مړونه وی، ښه خلګ وی، کوم چی انتقام نه اخلی، سوټی نه پر اوروی بلکې دسوټی پرځای هګۍ په خوری نو پرداسی نرم طبیعته مړو باندی (ښځی) غالبی سی، پوهیږی چی بدله نه راڅخه اخلی، ښکنځل نه راته کوی په دې خاطر مړو ته تیزی خبری کوی چی ما تاته ویلی وه چی داسی ټوکر راته راوړه، تا څنګه راوړی، ما تاته دچپلکو ویلی وه تا څه شی راته راوړې، ما تاته دښه ټوکرانو د راوړلو ویلی وه تا ګودړ راته راوړل، ما تاته ویلی وه چی دچایو ښې ښې پیالې راوړه تا څه شی راته راوړې، پر چپلکو، ټوکرانو او پیالو باندی دمیړه سره جنګ کوی او هغه بیچاره ورته خاندی هیڅ نه ورته وایی ﴿**يَغْلِبْنَ كَرِيْمًا**﴾دا درسول اللّٰهﷺ دنبوت الفاظ دی چی پر نیك، لایق او نرم طبیعته خاوند باندی ښځی غالبی سی ﴿**وَيَغْلِبُهُنَّ لَئِيْمٌ**﴾او بد اخلاقه خلګ پر ښځو باندی په وهلو او په سوټو غالبه سی، ښځه بیچاره خوکمزوره یی، دهغې پلار او ورور خو هلته وی نه، یو سوك او دوې لغتی یی ووهل، هغې (دزړه ددرده څخه) یو آه کش کړل او چپ سول او دبیری څخه یې بیا هیڅکله پر خاوند باندی ناز هم ونه کړی، کنې (پرخاوند باندی) ناز کول دښځو شرعی حق دی.

رسول اللّٰهﷺ فرمائی اې عائشه! کله چی ته راڅخه خوابدې سې نو زه در پوه سم، حضرت عائشهؓ عرض ورته وکی چی اې نبیﷺ زما مور او پلار دی پر تا قُربان سی تاته څنګه درمعلوم سی چی نن سبا زه ستا څخه خوابدې یم، نبیعليه السلام ورته وفرمایل کله چی ته زما څخه خوابدې یې نو ته وایې ﴿**وَرَبِّ اِبْرَاهِيْمَ**﴾ دابراهیم درب قسم دی، زما نوم نه اخلې او کله چی زما څخه خوشحاله یې نو وایې ﴿**وَرَبِّ مُحَمَّدٍ**﴾ دمحمدﷺ درب قسم دی، نو حضرت عائشهؓ وخندل او ورته وې وویل چی اې دالله رسوله تا بالکل صحیح وفرمایل (بُخاری صفحہ۷۸۷جلد۲). ددې (حدیث) څخه معلوم سول چی ښځی (پر میړه باندی) لږ دناز ښکاره کولو حق هم لری، که (دی ښځه) مخ درڅخه وه پرسوی نو په سوك یې مخ مه ورسموه بلکې مخ یې په خوله کی دمیټایی په

ورکولو سره ورسم که، که درڅخه خوابدې ده نو خوشحاله يې که، پوښتنه ځنی وکه چی څه تکلیف درپیښ سو، ستا په حق کی زما څخه کومه غلطی وسول، میټاپی په پټه وروړه، په پټه يې په خوله کی وروا چوه. خپلو ښځو ته په خوله کی ګوله ورکول سنت ده که يا، يو وخت خو پر دغه(سنت) هم عمل وکی لاکن دګولې څخه دغه مطلب نه دی چی دمرچکو چکنی په خوله کی وروا چوه چی په مرچکو يې دکولمو تاو شروع سی.

نو ددې وروسته نبی علیه السلام فرمائی ﴿**فَاُحِبُّ اَنْ اَکُوْنَ کَرِیْمًا مَغْلُوْبًا**﴾دا څوک فرمائی سیدُالانبیاء صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائی چی زه دا خوښوم چی کریم(نرم طبیعته) اوسم که څه هم (وخپلو ښځوته) مغلوب اوسم، که څه هم زما ښځی زما سره په لوړ آواز خبری وکی لاکن زه خپل اخلاقی لوړوالی کم نه کړم، خپل اخلاقی لوړوالی قائم وساتم، پر هغو باندی مهربان اوسم، دهغو خبری پر ځان یوسم، ځکه چی دالله جل جلاله بندګانی دی په دې خاطر وې بخښم، ﴿**وَلَا اُحِبُّ اَنْ اَکُوْنَ لَئِیْمًا غَالِبًا**﴾ او زه دغه نه خوښوم چی په بد اخلاقی سره پر ښځو باندی غالبه سم او زما اخلاقی لوړوالی ته تاوان ورسیږی.

یوواری بی بیګانو (دنبی علیه السلام سره) لږ په زوره خبری کولې، دډوډی او نفقې په باره کی يې خبری کولې، په دا حال کی حضرت عمر رضی الله عنه راغلی ټولی (بی بیګانی) چپ سوې، ځکه چی ږغونه يې واوریدل چی نن لږ په زوره خبری کیږی نو حضرت عمر رضی الله عنه ورته وفرمایل چی اې زما مَندو! تاسی دنبی سره په لوړ آواز خبری کوی او دعمر څخه وبیریداست، نو زمور مَندو څه ورته وفرمایل، زمور مَندو ورته وفرمایل چی اې عمره ستا زړه سخت دی او زمور ژوند درَحمَةُ لِّلعٰلمین سره دی، زمور دمهربان نبی سره ژوند دی، ستا په طبیعت کی سختی ده، زمور نبی سخت نه دی، هغه رحمةُ لِّلعٰلمین دی، زمور ناز وړونکی دی په دغه خاطر خو مور پر ده باندی ناز کوو(بُخاری صفحه۵۲۰جلد۱). سُبحان الله څنګه خبره يې وفرمایل.

بیچاره ښځی به څه ناز وکی پرداسی مړو باندی چی دا یو څه ورته ووایی او هغه یو ورته کش کی او عجبه خبره ده چی (میړه) ټوله ورځ ووهل او دشپې یې په غیږ کی اخیستې مچه ځنی اخلی، تاسی ووایاست چی دا انسان دی که حیوان چی سهار خو یې په سوټی وهی او دشپې دمحبت ډیر لوړ مقام ښکاره کوی، د ورځی چغال او دشپې مجنون ځنی جوړ سی.

زما دوستانو! که یو داسی خبره وی مثلاً (ښځه دی) لمونځ نه کوی نو دعُلماوو څخه پوښتنه وکړه چی څه وکم، دلمانځه دفضائلو کتاب یې وسرته کښیږده یا کتاب هره ورځ ته ورته وایه لاکن دوهلو طریقه ښه نه ده. څونه چی کیږی هغونه صبر وکه لاکن که دسختی کولو ضرورت پیښ سی نو زه مو نه راګرځوم، دسختی یو څه اجازه خو سته لاکن ددین په باره کی مثلاً سینما ته دتلو په باره کی درته ووایی هغه وخت ته سختی وکه یا که ټی وی او وی سی آر د راوړلو فرمایش درته وکی نو ته ددین په باره نرمی مه کوه، ورته ووایه چی هیڅکله به (زموږ کورته) وی سی آر نه راځی، هیڅکله به دګناه کار زموږ په کور کی نه کیږی.

که دی ښځه دکوچنیانو دپاره پلاستیکی پیشی راوړی نو بې شکه عکس په کورکی مه پریږده لاکن لږ په صحیح طریقه کار وکه او هغه صحیح طریقه دغه ده، ما وخپلو دوستانو ته هم دغه صلاح ورکړې ده که ستا ښځی د دوو روپو پلاستیکی پیشی راوړې ده نو ته دپنځو روپو طیاره ورته راوړه، تر پیشی ښه او ګران شی چی شرعی جائز وی اول دکوچنیانو دپاره راوړه مثلاً طیاره، ریل ګاډی یا ګیند ورته راوړه کوچنیانو ته یې ورکه اوکه دی هیڅ شی ورنه کړی او دپلاستیکی پیشی پر غاړه دی چاقو راتیر کړی نو کوچنیان به هم ژاړی او ښځه به دی هم درسره جنګیږی چی تر پرونه پوری خو تا ږیره خریل، پتلون دی اغوستی، په تبلیغ کی دی ځلویښت شپې څه ولګولې نو دځانه دی مُلا جوړ کړی، ډیر ظالم یې دکوچنیانو زړه دی ازار کړی، هغه

ژاړی، دهغو به وخت په تیرې دی هغه هم تاته خوند در نه کړی.

په دې خاطر په یو ښه او جائز شی باندی اول دکوچنیانو زړه ورخوشحاله که، ددې دپاره پیسې مصرف که، کنجوسی مه کوه، بیا په پټه پلاستیکی پیشی ایسته که، ماته ئې که او وې غورځوه، ځکه چی دژوندی شیانو عکسونه په ایښولو سره کور ته درحمت ملائکی نه رائی، دحیوان عکس وی که دانسان عکس وی او که دیو ولی عکس وی دهیڅا عکس ایښول جائز نه دی سخته ګناه ده.

نو دوستانو! دغه یو څو خبری مادرته وکړې، نن تاسی وخپلو ښځو ته یوه دخوشحالی دغه خبره خو وکی چی په جنت کی به ستاسی ځُسن تر حورو زیات کړل سی، چی دښځو دغه غم چی زموږ ښایست خراب سوی دی، په خوشحالی بدل سی او عجبه خبره خو دا ده چی دسپین ږیری وریښتان خو سپین یی لاکن دنفس وریښتان یې دننه تور وی، سپین ږیری هم دغه نه غواړی چی دسپین سری سره واده وکم، دغه خواهش یې وی چی دکم عمره ښځی سره یو بل واده وکم، خپله داویا کالو دی لاکن خواهش یې دغه دی چی واده دځلویښت کلنی سره وکم، هیڅکله به دغه ونه وایی چی د اویا کلنی سپین سری سره زما واده راوکی.

لهذا ورونړو ښځه مو سپین سرې وی که هر څنګه وی، هر چاچی خپلی ښځی په ژړا کړی وی، هغه یې ازار کړی وی، هغه یې په اُوښکو ژړولی وی، هغه دی نن ولاړسی دهغو څخه دی بخښنه وغواړی، هغې ته دی ووایی چی انشاء اللّٰه زه اُوس تا خالی خپله ښځه نه بولم بلکې داللّٰه ﷻ بنده دی هم بولم، په دې خاطر زه نور ستا سره ډیر ښه وضعیت کوم، لکه څنګه چی زه دخپلی لور دپاره خوښوم چی زما زوم دهغې سره ښه اخلاق وکی، دهغې غلطی وروبخښی، دنن څخه زه هم ستا غلطی تر مخه دربخښم او تابه هیڅکله ونه ژړوم، هیڅکله به دی خوابدې نه کړم، پر دغه طریقه باندی هغه خوشحاله کړی او صرف په خوله ویل نه بلکې یو څه پیسې هم هغې ته تحفه

ورکړی، صرف په خوله معافی غوښتل چی بخښنه غواړم بخښنه غواړم او یوه روپی هم نه را ایستل نو داهم دکنجوسی علامه ده، لکه څنګه چی مولانا رومی رحمة اللّٰه علیه لیکلی دی چی دیو سړی سپی دلوړی څخه مړکیدی او خاوند یې ورته ژړل چی زما سپی مری، لس کاله می پاللی دی، بل سړی ورته وویل ستا پر سر چی دا ټوکری ده په دغه کی څه شی دی، هغه ورته وویل چی ډوډی ده، سړی ورته وویل نو دغه ډوډی سپی ته ولی نه ورکوې چی ژاړې چی سپی می دلوړی مری، دسپی خاوند ورته وویل چی ګوره صاحبه دغه اُوښکی خو په مفته دی او پر ډوډی باندی ما مال ورکړی دی یعنی پر ډوډی باندی می پیسې تللی دی او اُوښکی په مفته دی، نو داسی مه کوی، خپلو بښځو ته یوځه ورکی.

مولانا اشرف علی تهانوی رحمة اللّٰه علیه په خپل کتاب کمالاتِ اشرفیه کی دبښځو یو حق دغه هم لیکلی دی چی هره میاشت هغې ته یو څه دجیب خرځ هم ورکوه او بیا دهغه حساب مه ځنی اخله چی تا چیری مصرف کړې، اللّٰهﷻ چی چاته څونه ورکړی دی دهغه په حساب دی دخپلی بښځی میاشتانه مقرره کړی، که دی ګټې لس زره روپی ده نو یوه روپی مه ورته نیسه، پنځوس روپی ورکه، سل روپی ورکه بلکې ډیری ورکړه او چی وردی کړې بیا یې هیری که او هغې ته ووایه چی ته اختیار لرې چی هر چیری یې مصرفه وې، ددې پیسو حساب زه نه درڅخه اخلم.

دغه میاشتانه دجیب خرځ دهغې حق دی ځکه چی هغه مجبوره ده پیسې نه سی ګټلای، دهغې زړه غواړی چی ورور می راغلی دی، غریب دی هغه ته یو تحفه ورکم، که دهغې سره پیسې نه وی نو دکومی خوا تحفه ورکی، په دغه خاطر (په دې کی) دهغې داحساساتو او خواهشاتو خیال ساتل دی، ټوله ژوند ستا سره پابنده ده، دژوند رفیقه دی ده، ستا ددروازې څخه دباندی نسی وتلای، ټوله ژوند ستا سره ملګری کوی، په دې خاطر پر هر ډول باندی دهغې داستراحت او آرام خیال ساتل ضروری دی.

یوه بله خبره هم درته کوم چی یو سړی وو هغه به وه نورو ښځو ته کتله او دحُسن دکموالی په خاطر یې خپله ښځه حقیره بلل، دغه سړی دهیضې په مرض اخته سو، په خپلو سترګو لیدلې قصه درته کوم، اسهال پر اسهال او استفراقونه پر استفراقونه یې شروع سول، ښځی یې غول او بولی ورپاکولې، ښځی یې دونه خدمت وکی چی کله دی جوړ سو نو ورته وې ژړل چی اې زما ښځی تا زما مُرداری راپریولل، کومو ښځو ته چی ما کتل نن یوه هم په کار نه راغله، په کار خو ته راغلی.

اې زما وروره کله چی پر چارپائی باندی سپین ږیری پروت یی او یوه ناجوړی پر راسی نو خپله سپین سرې یې په کار ورځی، په دې خاطر دا حقیره مه بولی. که نن تاسی ټولو دخپلو ښځو سره دښه ژوند کولو اراده وکړل دالله تعالیٰ په خاطر چی زما دالله بنده ده نو زما (جنوبی افریقې ته) راتګ وصول سو انشاء الله تعالیٰ. بس دعا وکی چی الله تعالیٰ دغه خبری راڅخه قبولی کړی، که زما یو بیان هم قبول سو نو دکراچی (پاکستان) څخه تر دې ځایه پوری دراتګ ټوله تکلیف وسول سو، تاسی ټوله نن وعده راسره وکړی چی کور ته ولاړسی نو وخپلو خپلو ښځو ته زما کومه خبره چی مو په یاد وی هغه به ورته وکړی.

په اِله آباد کی کوم چی دهندوستان یو ښار دی هلته یو ډیر لوی عالم کوم چی دمولانا شاه وصی الله صاحب خپل هم دی او دیو لو مدرسې مُهتمم دی، هغه پر خپل ځای باندی زما بیان ټاکلی وو، دشپې دهغه ښځی هم (په پرده کی) زما بیان واوریدی نو یې وخپل میړه ته وویل چی ته دونه لوی عالم یې مګر تا ماته تر ننه دغه نه دی ویلی چی زموږ شکلونه به په جنت کی تر حورو ډیر ښائسته سی، لهٰذا دغه مُلا صاحب چی راغلی دی چاچی دونه لو دخوشحالی خبره وکړه، زه دده دچایو ښه میلمستیا کول غواړم یعنی دهګۍ، کولچو او داسی نورو شیانو. نو دوستانو! نن وخپلو ښځو ته داغه خبره وکړی نو بیا به ستاسی هم دچایو ښه میلمستیا وسی انشاء الله.

بس دعا وکی چی اللّٰه تعالیٰ دعمل توفیق راپه نصیب کړی او چی څه وویل سول اللّٰه تعالیٰ دی هغه قبول کړی او موږ ټولوته دی داولیاوو ژوند راپه نصیب کړی، اې اللّٰه دنفس او دشیطان دغلامی څخه مو خلاص کړې او سل فیصده خپل دفرمانبرداری ژوند، داطاعت ژوند، دولیانو ژوند راپه نصیب کړې، زموږ ګناوی راوبخښې، موږ که ستا په مخلوق کی پر یو چا ظلم کړی وی، که پر یوه میږی هم ختلی یو دخپل غفلت او نالائقی په سبب، یا که مو خپلی ښځی ازار کړی وی یا که مو دخاندان خلګ یا مور و پلار خوابدی کړی وی نو ددوی بیرته دخوشحاله کولو توفیق راکړې، دهغو څخه معافی دغوښتلو توفیق راپه نصیب کړې، دخپل مخلوق په باره کی زموږ همکاره سې، دقیامت په ورځ دهغو څخه دمعافی دپاره ته زموږ کفالت قبول کړې او څوك چی ژوندی دی دهغو حق د ادا کولو او دهغو څخه دبخښنی دغوښتلو توفیق هم راپه نصیب کړې.

موږ ټوله دخپل حق په باره کی هم وبخښې او دخپل مخلوق په حق کی مو هم وبخښې. یااللّٰه موږ ټوله خپل دوستان وګرځوې، څونه خلګ چی دلته ناست دی یااللّٰه یو هم مه محرومه کوې، زه مسافر یم، ته دمسافر دعا قبولوې، موږ ټوله خپل دوستان وګرځوې یو هم مه محرومه کوې، ټوله دخدای دوستان کړې، کوم خلګ چی دلته نسته هغه هم خپل دوستان کړې، اې اللّٰه زموږ دخاندان خلګ، زموږ ښځی، زامن او اولادونه هم صالح او دخدای دوستان کړې، لونې مو هم دخدای دوستانی کړې، زموږ دنیا هم راسمه کړې آخرت هم راسم کړې، اې اللّٰه دغه بیان راڅخه قبول کړې.

دکورنی شخړو څخه دحفاظت طریقه

حضرت تهانوی رحمة اللّٰه علیه فرمائی چی دکورنی جنجالو څخه دحفاظت یو ښه طریقه دغه ده چی څو خاندانه دی په یوه کور کی یوځای نه اوسیږی ځکه چی دڅو ښځو په یوه کور کی اوسیدل دفساد سبب دی.

دمیړه او ماندینې حقوق

دمیړه او ماندینې تر مینځ دژوند دترخوالی اصلی سبب عموماً دیو او بل حق نه ادا کول دی. په داغه خاطر جنګونه کیږی او جنجال پیښیږی، په دې خاطر پر دواړو باندی لازمه ده چی یو دبل حق سره وپیژنی او بیا دی هغه ټوله حقوق د ادا کولو بیرته دسره کوښښ شروع کړی، هر چیری چی غلطی کیږی دزړه څخه دی دخپلی غلطی اقرار وکړی او ژر دی هغه غلطی راوګرځوی اوکه (دواړه) داسی وکړی نو بیا (ډیره مشکله ده چی) ددواړو تر مینځ جنجال پیښ سی. دلته مختصره ددواړو یو څو شرعی حقوق ذکر کیږی.

پر خاوند باندی دماندینې دغه حقوق دی

۱) دماندینې سره خوش اخلاقی کول.

۲) په اعتدال سره دښځی پر تکلیفو باندی صبر کول یعنی دښځی څخه که (ستا) دطبیعت خلاف یوه خبره وسی نو پر هغه باندی صبر او برداشت کول او په نرمی سره هغې ته ویل چی بل واری یې خیال وساتی، پر کوچنی کوچنی خبرو باندی دخوشکو څخه پرهیز کول.

۳) په غیرت کی اعتدال ساتل، ددې دغه مطلب دی چی نه دی ناحقه پر ماندینې باندی بدګومانی کوی او نه دی یومخ دښځی دخوا څخه بې فکری کوی.

٤) په خرڅ کی اعتدال ساتل، یعنی نه دی تر حد ډیره تنګی پر راولی او نه دی دفضول خرڅ اجازه ورکوی، میانه حاله دی اوسی.

٥) دحیض او نفاس(دښځی دمریضی) احکام زده کول او وښځی ته یې ورښول، دلمونځ کولو او پر دین باندی دعمل کولو په باره کی تاکید ورته کول او دبِدعتو او رواجو څخه یې منع کول.

٦) که (دسړی) څو ښځی وی نو دهغو تر مینځ حقوق برابر ساتل.

٧) دضرورت په اندازه دهغې سره جماع(کورداری) کول.

٨) دضرورت په اندازه هغې ته داوسیدلو دپاره کور ورکول.

٩) کله کله ښځه دخپلو محرمو او خپلوانو دلیدلو دپاره پریښول.

١٠) دهغې سره دجماع(کورداری) خبری وبل چاته نه کول.

١١) دضرورت پر وخت دښځی دوهلو او دیو څه ورته ویلو کوم حد چی شریعت ښوولی دی تر هغه یې زیات نه وهل.

پر ماندینې باندی دمیړه دغه حقوق دی

١) په هر جائز کار کی دمیړه اطاعت کول، هو دشریعت پر خلاف او دګناه په کار کی دی معذرت ځنی وغواړی.

٢) دمیړه تر وس زیاته نان اونفقه نه ځنی غوښتل.

٣) بیله دمیړه داجازې هیڅوك کورته نه پریښول.

٤) بیله دمیړه داجازې دهغه دکوره څخه نه وتل.

٥) بیله دمیړه داجازې دهغه دمال څخه هیڅا ته نه ورکول.

٦) بیله دمیړه داجازې نه نفل لمونځ کول او نه نفل روژه نیول.

٧) میړه که یې دجماع دپاره راوغواړی نو بیله دشرعی ممانعته(دحیض دشپو) څخه

انکار نه ورته کول.

۸) میړه دغریبی یا دبدرنګ په خاطر حقیر نه بلل.

۹) که په میړه کی یوه خبره دشریعت خلاف یا دګناه ووینی نو په ادب سره یې منع کول.

۱۰) میړه ته په خپل نامه نه ویل.

۱۱) دیو چا ومخته دمیړه شکایت نه کول.

۱۲) دمیړه ومخته تیزی او ترخې خبری نه کول.

۱۳) ځان دمیړه دمور وپلار خدمتګاره بلل او دهغو ادب او احترام کول، هغوته په شخړو یا په یو بل طریقه باندی تکلیف نه ورکول.

صالحه ماندینه

دقرآن پاك دحساب څخه صالحه ماندینه هغه ده کوم چی دمیړه حاکمیت(مشرتوب) په تسلیمولو سره دهغه اطاعت وکړی، دمیړه ټوله حقوق د ادا کولو سره سم دهغه په غیر حاضری کی دخپل نفس او دمال حفاظت وکړی، دخپل عزت او دمال حفاظت کوم چی په کورنی ژوند کی تر ټولو ضروری دی، ددې په حفاظت کی دی دمیړه ومخته او په غیر حاضری کی یو رنګه حال وساتی، داسی نه چی دخاوند ومخته خو یې حفاظت کوی او په غیر حاضری کی بې لاپروایی کوی.

په یوحدیث شریف کی ددې نوره تشریح سته، رسول اللّٰهﷺ فرمائی﴿ډیره ښه ښځه هغه ده چی کله ته(یعنی میړه) ورته وګورې نو خوشحاله سې او کله چی ته هغې ته یو حکم ورکړې نو یې اطاعت وکړی او چی ته (پرکور) نه یې نو دخپل نفس او دمال حفاظت وکی﴾.(تفسیرمعارف القرآن)

په یو بل حدیث شریف کی رسول اللّٰهﷺ فرمائی﴿کومه ښځه چی دمیړه امر منونکی او فرمانبرداره یی دهغې دپاره په هَوا کی مرغان، په دریاب کی ماهیان،

پہ آسمانو کی ملائکی او پہ ځنګلو کی پیریان استغفار کوی﴾. (بحرمحیط)

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ط



نارِ شھوت نارِ دوزخ متَّصِل
از تنہ چو شاخ باشد متَّصِل

ترکِ شھوت نیست آساں اے فقیر
ورنہ ھر شھوت پرست گرد فقیر

پس ھمیں دستور از اللہ بود
کہ برد آنجا کہ اھل اللہ بود

شیخ کامل را طبیبِ خود بگیر
بَھرِ حق آں را حبیبِ خود بگیر

شیخ العرب والعجم عارف باللہ
حضرت اقدس مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتہم